صداقت خپرندویه ټولنه
کندهار - افغانستان

# ټولنیز اخلاق

لیکوال
ډاکټر مصطفی سباعي

ژباړن
سید محبوب شاه ساجد

صداقت خپرندویه ټولنه
کندهار - افغانستان

Scanned with CamScanner




Scanned with CamScanner

# ټولنيز اخلاق

ليکوال

**ډاکټر مصطفی سباعي**

ژباړن

**سيد محبوب شاه ساجد**

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم


د چاپ حقوق په خپرندویه ټولنه اړه لري



## د کتاب پېژندنه:

- د کتاب نوم : ټولنیز اخلاق
- لیکوال : ډاکټر مصطفی سباعي
- ژباړن : سید محبوب شاه ساجد
- خپرندوی : صداقت خپرندویه ټولنه/کندهار
- کمپوز او ډیزاین : علامه رشاد کمپیوټر اداره/ کندهار
- کمپوزر : مطیع الله روهیال
- چاپکال : ۱۳۸۸ ش – ۱۴۳۰ ق
- چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

**د تر لاسه کولو پته:**

صداقت خپرندویه ټولنه

ارگ بازار، کندهار – افغانستان

د محمد عمر دوکان

**اړیکي :** ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

تصرفات مذموم او بد وي او خلک یې نه خوښوي او یا د یوه ملت په رسم و رواج کي ښه نه وي ګڼل سوي هغو ته بد اخلاق وایي او دا د ثقافتونو د اختلاف په وجه په هره ټولنه کي ځانګړي مفاهیم او مدلولات لري، خو په مسلمانانو کي که هغوی د هر قوم، هر ملت او نژاد سره تعلق ولري د اخلاقو مفهوم په دې بنیاد یو دئ، چي دلته اخلاق د مذهب سره مستقیم تماس لري.

په اسلام کي ښه اخلاق هغو کړو وړو ته وایي، چي هغه د اسلام د اصولو سره موافق او د اسلام د هدایاتو څخه یې سرچینه اخیستې وي او بد اخلاق په اسلام کي هغه تصرفات او یا د هغه قول او فعل څخه عبارت دي، چي اسلام حرام بللي وي او مسلمان یې د هغه څخه منع کړی وي، هغه څوک نېکمرغه او بختور دئ، چي هغه د ښو اخلاقو په زېور ښایسته وي او بدمرغه هغه څوک دئ چي الله تعالی د دې نعمت څخه محروم کړی وي.

د اسلام مقدس دین د انساني ټولني د دایمي دنیوي او اخروي سعادت او نېکمرغۍ د فلاح او کامیابۍ یو الهي پیغام او زېری دئ، اسلام د انساني ټولني او افرادو د اجتماعي او انفرادي ژوند د سمبالولو لپاره هغه معیاري منل سوي اصول لري، چي ورته مثال یې په نورو نظریاتو، افکارو او ادیانو کي نه لیدل کېږي، همدا وجه ده چي هر چیري په دنیا کي چي کوم غیر مسلم لیکوالان د اخلاقو او یا انساني روش په هکله څه لیکي د هغوی د څېړنو سرچینه په مستقیم او یا غیر مستقیم شکل اسلامي موارد او منابع وي.

چي خبره داسي ده، نو پوښتنه دا ده چي د اوسنیو مسلمانانو اکثریت ولي د بداخلاقۍ سره لاس او ګرېوان دئ؟ یا په بل عبارت



ولي په اخلاقي بېوزلي کي قرار لري؟

د دې کار دوه علتونه کېدای سي:

یو دا چي موږ اوسني مسلمانان د خپل دین د لارښوونو څخه لیري والی اختیار کړی دئ، زموږ او د دین تر منځ فاصله او واټن خورا ډېر دئ موږ لکه څنګه چي لازمه ده همغسي پخپل دین عمل نه دئ کړی او تش په نامه مسلمانان بلل کېږو، نو په دې صورت کي نقص، ملامتیا او پړه پر موږ مسلمانانو ده، نه پر دین. د مثال په توګه که رنځور د ډاکټر پېشنهاد سوي درمل د هغه د هدایاتو سره سم نه خوري دا د دوا یا درمل او یا معالج کمزوري نه ده، بلکي دا د رنځور عیب دئ، چي هغه د دوا څخه د خپلي معالجې لپاره کار نه اخلي.

او دوهم علت یې دا دئ، چي د اسلام د ظهور سره سم د هغه مخالفینو او معاندینو هر وخت د دې هڅه کړې ده او کوي یې، چي په یوه او یا بله بڼه او د وخت او حالاتو د په نظر کي نیولو سره مسلمانان د خپل دین څخه لیري کړي او هغه اسلامي ارزښتونه او اخلاق چي د مسلمان شخصیت ورباندي پېژندل کېږي، د هغوی د مزاج د امتزاج څخه وباسي او د هغوی اسلامي تشخص چي د هغوی په اخلاقو کي تمثیل سوی دئ له منځه یوسي. د یهودو او مسیحیانو مشرانو (لکه زویمر) په ځینو تاریخي سیمینارونو کي چي د همدې مقصد لپاره یې تأسیس کړي وو، و دې نتیجې ته رسېدلي دي او خپلو پیروانو ته وایي چي زموږ د دعوت او تبلیغ هدف دا نه دئ، چي یو مسلمان دي مسیحي یا یهودي سي، بلکي هدف مو دا دئ چي مسلمانان له خپل دین څخه بې دینه کړو، د خپل دین څخه یې لیري کړو، اخلاق یې ور فاسد کړو، چي د اخلاقي فساد په خاطر به دوی بالاخره بې دینه سي،

Scanned with CamScanner

خپل دین به پرېږدي او که مسلمان هم وي نو یوازي به په نامه مسلمان وي، چي دا ډول مسلمان بیا بې روحه کالبوت وي، چي زموږ مصالحو او تحرکاتو ته کوم ګوابن نه سي متوجه کولای او دا زموږ لپاره کفایت کوي، او کله چي مسلمان د ضعف دغه نقطې ته ورسېږي نو خامخا به بیا زموږ مذهب، کلتور او یا زموږ هغو غوښتنو ته غاړه ږدي، کوم چي موږ یې ورباندي تپل غواړو.

یهود او نصارا د دې کار لپاره په جهاني سطحه د دولتونو، تنظیمونو او افرادو په سویه هر کال زیاتي پانګي اچوني کوي، هغوی اوس هم زموږ هیوادونو او کورونو ته دننه په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه لاره موندلې ده، خو زموږ ورته هیڅ پاملرنه نسته.

نو په دې اساس دغو ګوابنونو ته باید متوجه سو او د مخنیوي هڅي یې وکړو، د ځانونو څخه واقعي مسلمانان جوړ کړو، د خپلو مرضونو نسخې په قرآنکریم، نبوي ﷺ سنتو، او صحابه کرامو، سلفو صالحینو او نېکانو په سیرتونو کي پیدا او عملي کړو، تر څو په دنیا او آخرت کي هوسا او بریالي سو.

خبره رالنډوو، او خپلي اصلي موضوع ته راځو:

دا کوچنی کتاب د مرحوم ډاکټر مصطفی سباعي رحمه الله د (اخلاقنا الاجتماعیه) نومي کتاب یوه برخه ده، چي ښاغلي استاد عبدالعزیز سلیمي د عربي څخه فارسي ته ژباړلی و، موږ یې د فارسي څخه د پښتو ژباړي نیمګړې هڅه کړې ده ښه به دا وای چي مخامخ مو د عربي څخه ژباړلی وای، خو عربي ښه یې په لاس رانغله او بل دا چي موضوعات یې ډېر مهم وه، چي همدا اوس اوس موږ په خپله ټولنه کي ورسره لاس او ګرېوان یو، نو تلوار مو وکړ، او په کار مو لاس پوري



کی، څو هیوادوال مو ګټه څني واخلي.

تر خپله وسه مو هڅه کړې څو د ژباړي امانت اداء کړو، په ځینو ځایونو کي مو د ښه وضاحت په خاطر خپله خبره د قوسونو په منځ کي وراضافه کړېده، خو بیا هم انسان د خطاء او اشتباه څخه خالي نه دئ، چي په دې صورت کي بخښنه غواړم، او د الله تعالی له غني دربار څخه یې د قبول خواست کوم.

په درناوي

سید محبوب شاه ساجد

۲۶ ربیع الثاني ۱۴۳۰ ق

۳۱ وری ۱۳۸۸ ش

# نه ځان کم شمېرل
# او نه ځان لوی شمېرل (تکبر)

دا انسان هم یو عجیب او غریب مخلوق دئ، د ده په وجود کي ډېر متضاد خاصیتونه یو د بل په څنګ کي قرار لري، کله چي د ده د وجود ځیني اړخونو ته دقیق متوجه سو نو ګورو چي ځواک او استعداد یې د الله تعالی د نورو مخلوقاتو څخه ډېر دئ، ځکه دی توانېدلی دئ چي هوا ته والوزي، د سمندر په تل کي وګرځي او ولامبي، په لږ وخت کي اوږدې لاري او مسافتونه ووهي، وچي دښتي او بېدیاوي په شنو کښتونو او سمسورو باغونو واړوي، توانېدلی دئ چي غرونه د ځای څخه بې ځایه کړي، د سیندونو او ویالو لوری بدل کړي، په ژوند کي نوري موجودي پدیدې تر خپل اغېز لاندي راولي او په مځکه او هوا کي موجوده قوتونه د ځان تابع او تسخیر کړي.

خو د بله طرفه که د ده د وجود نورو برخو او اړخونو ته ځیر او متوجه سو، نو ضعف او کمزوري به پکښې ووینو. داسي چي یو کمزوري غوماشه یې هم د آزار او تکلیف سبب کېدای سي، سړه هوا یې د ناروغۍ تر بستره رسوي، کوچنی اغزی یې بدن زخمي کوي او د یوې حادثې او پېښې په نتیجه کي د غم او خپګان سره مخ کېږي. دا



حیرانوونکی موجود (انسان) ډېر تناقضات او پېچلتیا پخپل وجود کي لري. د انسان ځانګړتیاوو ته په پام سره الله تعالی ﷻ د انسان وجود او خلقت د خپل وجود او کامل قدرت د دلایلو او نښانو څخه یوه نښانه ګرځولې ده، داسي نښانه چي د پوهانو، محققانو او متفکرینو په نزد ډېر یو روښانه او واضح حقیقت دئ.

الله تعالی ﷻ فرمایي:

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾

(د سورة الذاریات، ۲۰–۲۱ آیتونه).

ترجمه: او په مځکه کي علامې او نښې دي، د قدرت د الله تعالی یقین لرونکو لره، په نفسونو او ځانونو ستاسي کي هم علامې د عبرت دي، آیا نو تاسي یې نه وینئ چي پند تري واخلئ.

پوه او هوښیار انسان هغه دئ، چي د خپل ضعف او قوت اړخونو ته متوجه وي او نه یې هېروي. دا چي پخپل ځواک، استعداد، هوښیاري او علم باندي نه مغروره کېږي. داسي غرور چي ټوله کمالات، ښېګڼې او فضایل یوازي پخپل ځان کي ویني او د نورو انسانانو وړتیاوو او حیثیت ته په سپکه سترګه ګوري او بل دا چي خپل د ضعف او کمزورۍ اړخونه د ځان په اړه د قضاوت معیار نه ټاکي، په دې معنی چي د کمترۍ احساس نه کوي او خپلو توانمندیو، امکاناتو او استعدادونو ته په کمه سترګه هم نه ګوري او خپل ځان یو بېوسه او بې خاصیته موجود نه ګڼي، چي په نتیجه کي یې د ژوند ټوله چاري په ټپه ودرېږي او فلج سي.

د یو ملت په منځ کي د خیر او سلامتۍ د نښو څخه یوه نښه دا

ده، چي د دوو خطرناکه ناروغيو، لکه (تکبر او غرور) او (ځان کم شمېرلو) باندي نه وي اخته سوي.

غرور او ځان تر نورو ښه ګڼل دا دئ، چي د يوې ټولني وګړي پخپل منځ کي يو بل ته په حقارت او سپکه سترګه ګوري (يا په بل عبارت يو بل نه سره مني)، د خپل وس او توان څخه په پورته کارونو کي مداخله يا کلانکاري کوي، د خپلي کمبلي څخه پښې آخوا اوږدوي او د هغو کارونو په هکله چي هيڅ معلومات نه پکښې لري د نظر څرګندونه کوي.

تر دې چي کله ناکله د چا نصيحت ته هم غوږ نه ږدي، د نظر د خاوندانو او حقيقي کارپوهانو رايي ته نه تسليمېږي او د عالمانو او مشرانو د احترام او درناوي څخه سرغړوي.

هر يو يې تر نورو ښه عالم وي، تر نورو ډېر هوښيار او حکيم او پوخ او مجرب سياستمدار وي، هر يو يې ځان د لوړ مقام خاوند بولي، چي پر نورو تن نه ږدي (يا په بل عبارت هر يو يې "من" او جامع الکمالات وي).

دا هغه خطرناکه او وژونکې ناروغي ده، چي غالباً هر هغه ضعيفي ټولنې او ملتونه په اخته وي کوم چي د خامۍ، کمزورۍ او خوب د حالت څخه د بيدارۍ او پختګۍ و مرحلې ته انتقال کوي، او يا هغه ملتونه په دې ناروغي مبتلا وي، چي د ترقۍ او افتخار د حالت څخه يې د کمزورۍ او خوارۍ کندي ته سقوط کړی وي. متأسفانه دغه ناروغي اوس په مسلمانانو کي هم خپره سوې ده!!!

زموږ د دې ادعا د ثبوت لپاره دا کفايت کوي چي مختلفو غونډو، کنفرانسونو، په کوڅه او بازارونو کي مجلسونو او نورو کي



د خلکو خبرو ته غوږ سو، نو وبه ګورو چي څنګه يې هر يو پر خپل ځان د هر کار د متخصص او کارپوه ګومان کوي، په دې او هغه موضوع کي د نظر څرګندونه کوي، د غرور او خودبينۍ هغه ځای ته رسېدلي وي چي خپل نظر او رايه تر ټولو رايو او نظرياتو سمه او لوړه بولي او ځان تر ټولو پوهانو او عالمانو پوه ګڼي.

ډېری يې د خپلو خبرو او څرګندونو په وخت کي نورو ته د حماقت او ناپوهۍ نسبت کوي، پوهان او عالمان په ناپوهۍ او بې علمۍ سره متهموي، کله چي يو ملت په داسي ناروغي مبتلا سي نو د ناصحانو نصيحت ته غوږ نه نيسي، د هره لحاظه به د سقوط او بېوسۍ په حالت کي قرار لري، خو دوی به د ځانونو په اړه د مترقي او پرمختللو ګومان کوي.

په داسي حال کي چي د مشکلاتو او مصيبتونو په دام کي به بند او نښتي وي، دوی به ځانونه بې عيبه او بې نقصه بولي، په داسي حال کي چي نور به د دوی پر ضد سره يو او متفق سوي وي (خو دوی به متفرق وي)، خو په عين حال کي به (پخپل خام فکر سره) ځانونه تر دښمن قوي ګڼي. داسي فکر کوي چي په يوه ږغ او پټکه سره به د ښمن وبېروي او يا به په يوه اشاره سره هغوی پر شا تګ ته اړ باسي. يا به يې بې ځايه او تش جاروجنجال، نارو او غالمغال سره د هغوی مقابله کوي!!!

اين خيالست و محالست و جنون

دوهمه ناروغي: د کمترۍ احساس يا ځان کم شمېرل، چي دا هم يو ډول رواني ناروغي ده، که کوم څوک په دې ناروغي اخته سي، نو د عصبي ګډوډۍ او د ارادې د ضعف سره مخامخ کېږي، چي په نتيجه

Scanned with CamScanner

کي یې انسان د خپل ځان او ملت په هکله د نا امیدۍ او بې اطمینانۍ احساس کوي، د ژوندانه په ډګر کي د ځان لپاره په هیڅ حیثیت او منزلت سره قایل نه وي او داسي فکر کوي چي د هیڅ کار په کولو قادر نه دئ.

ډېره ناوړه ناروغي چي امکان لري یو ملت په مبتلا سي، هغه همدغه د ځان کم شمېرلو ناروغي ده، چي پر خپل ځان او خپلو ورتیاوو باندي اعتماد یې، کوښښ او حرکت یې د ضعف او سستۍ سره مخامخ کوي او بالاخره د هر ظالم فرد او د هر دیکتاتور خودکامه او استعماري نظام په مقابل کي یې خوارۍ او تسلیمۍ ته اړ باسي. په خواشینۍ سره دې ناروغۍ هم په مسلمانانو کي خورا پراخ نفوذ کړی دئ. همدا اوس ډېری مسلمانان د خوراۍ، کمزورۍ او ګوښه توب د حالت سره مخامخ سوي دي. که د کومي موضوع په هکله ورڅخه وپوښتل سي نو په جواب کي وایي:

موږ څوک او څه شي یو او د څه ارزښت درلودونکي یو!!!

که کوم وخت اسلامي امت د دښمن تر یرغل لاندي راسي یا د نورو مشکلاتو سره مخ سي نو لیدل کېږي چي دغه ډول انسانان د کورونو او معابدو ګوښو ته پناه وړي او که د دوی څخه وغوښتل سي چي د خپل دین، مسلمان ملت او اسلامي خاوري څخه د دفاع او ساتني په خاطر را ولاړ سي او همکاري وکړي نو په جواب کي وایي:

زموږ یې په دې کارونو څه کار، زموږ په وسه څه پوره ده؟ آیا موږ کولای سو چي د لمر د حرکت مخه ونیسو، یا د زمانې د څرخ مخه ډب کړو؟ (او داسي نور خام جوابونه).

هیڅکله نه! داسي نه ده ګرانه دوسته! ته ډېره لویه تېروتنه کوې،



ته ډېر لوی او د قدرت ور موجود یې! ته د ډېرو او خورا عالي کارونو ورتیا لري. هغو چي د تاریخ پاڼي یې د کارنامو او حماسو څخه ډکي کړي او هغه چي د ټولني په منځ کي کار او هڅي کوي هم تا غوندي انسانان وو، هغوی ستاسي په شان د استعداد او ځواک درلوونکي وه، خو توپیر دومره دئ چي هغوی خپل استعدادونه او ورتیاوي درک کړي وې، پر خپل ځان یې باور او اعتماد درلود، د خپلو استعدادونو او قوتونو څخه یې ګټه اخیستې وه او نور خلک یې هم مستفید کړي وو.

مګر تا په لوی لاس ځان کم شمېرلی دئ، پخپل ارزښت نه یې پوهېدلی، خپل ملت ته دي په خواره سترګه کتلي دي، ځان او اسلامي امت دي پر هیڅ شمارلی دئ، دا ډول انسانان موږ په ټولنو کي خورا ډېر دي.

خو د تعجب ځای دا دئ چي د هغو خلکو په منځ کي چي د حقارت او ضعف د احساس په ناروغۍ اخته دي، داسي کسان پیدا کېږي، چي (لکه مخکي چي مو اشاره ورته وکړه) د بې ځایه غرور او خودخواهۍ (ځان غوښتني) د ناروغۍ سره لاس او ګرېوان دي، داسي چي د خپل ملت او خلکو په وړاندي لویي کوي، ځان تر نورو لوړ او ښه بولي، مګر د دښمنانو په مقابل کي خپل ځان دومره خوار او حقیر شمېري، چي حتی د هغوی په مقابل کي ځان ته د سر پورته کولو اجازه هم نه ورکوي او د هغوی په وړاندي ځان ته په هیڅ ارزښت او قدر قایل نه دي. هغوی خپلو خلکو ته په تحقیر آمیزه سترګه ګوري، او د هغوی د دښمنانو تعریف او تمجید کوي، خپل تاریخ ته هیڅ ارزښت نه ورکوي، خو د نورو تاریخ ته په خورا درنه سترګه ګوري،

Scanned with CamScanner

خپل کلتور او عنعنات بې خاصیته او وروسته پاته بولي، مګر د نورو د غلط او باطل فرهنګ څخه سخت متأثر وي او په تقدس ورته قایل وي.

هر کله چې د دوی امت د دښمن تر هراړخیزه یرغل لاندې واقع سي، دوی د تسلیم بیرغ پورته کوي، د ضعف او کمزورۍ سورنا ږغوي او خپلو خلکو ته وایي، چې زموږ دښمنان نه ماتېدونکي او شکست نه منونکي دي او موږ د دوی سره د مقابلې وس نه لرو او د دوی سره مقابله زموږ او ستاسي د نابودۍ په معنا ده.

(په پای کي خپل ملت دښمن ته لاس تړلی په لاس ورکوي، د اقتصادي پرمختګ او مشترکو ګټو په نامه).

دا دوې خطرناکي ناروغۍ یعني ځان لوړ شمېرل (غرور) او ځان ډېر کم شمېرل (احساس کمتري) د اسلامي ادابو او لارښوونو له نظره په ډېره حکیمانه توګه غندل سوي دي، او موږ یې د دې ناروغیو په دام کي د لوېدلو څخه خبر کړي یو.

اسلامي لارښوونو د الله تعالی ﷻ د بې انتها قدرت او عظمت د یادوني د لاري او دا چې د ځمکي پر مخ د ټولو نعمتونو، ټولو شتمنیو، علومو او فضیلتونو لایق او څښتن یوازې او یوازې الله تعالی ﷻ دئ، موږ د غرور او خودخواهۍ څخه منع کوي.

الله ﷻ فرمایي:

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ (سورة النحل – ۵۳ آیت).

ترجمه: او هر هغه چې ستاسي سره دي د (کوم قسم) نعمت نو له (طرف د) الله تعالی ﷻ دي.



يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ (سورت الفتح – ۱۰ آیت).

ترجمه: او لاس د الله تعالی ﷻ د پاسه د لاسونو د دوی دئ.

خپل پیغمبر ﷺ د علم او علماوو په مقابل کي تواضع او عاجزۍ ته رابولي او فرمایي:

وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴿١١٤﴾ (سورة طه – ۱۱۴ آیت).

ترجمه: او وایه (اې محمده ﷺ) اې ربه زما زیات کړې ما له جهته د علم.

وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ (سورة بني اسرائيل – ۸۵ آیت).

ترجمه: او نه ده درکړه سوې تاسي ته (برخه) له علم (پوهني) څخه مګر لږه.

اسلام د دغو الهي لارښوونو د لاري مسلمانان د هر ډول غرور او ځان غوښتني څخه منع کوي.

که مسلمان واقعي مسلمان وي هیڅکله د علم، فضل، مقام او منزلت او ښه استعداد د لرونکو کسانو ته په سپکه سترګه نه ګوري، کله چې رسول الله ﷺ د مکې د مشرکینو سره د شل کلني جګړې او مبارزې نه وروسته فاتح او بریالی د مکې معظمې ښار ته داخل سو، نو په هیڅ صورت یې د غرور او تکبر احساس ونه کړ او د خپل بریالیتوب څخه یې د مکې د مشرکانو د رټلو او سپکولو کار وانه خیست، بلکي د دې حالت برعکس د مکې ښار ته د داخلېدو په وخت کي پر اوښ سپور په داسي حال کي چې سر یې د الله تعالی ﷻ په

Scanned with CamScanner

وړاندې د عاجزۍ په خاطر ټیټ او کښته نیولی و او په کامله توګه یې د الله تعالی ﷻ د نصرت او حمایت شکر اداء کاوه.

کله چې د کعبې د دروازې څنګ ته ودرېد او د قریشو مشران او رئیسان د ېرې او ډار په حالت کې د رسول الله ﷺ اقدام ته منتظر او په دې اندېښنه کې وه، چې اوس نو رسول الله ﷺ را باندې برلاسی او غالب دئ هر ډول تصمیم چې د دوی په اړه ونیسي نیولای یې سي او دا چې د دوی سره به څه ډول معامله وکړي؟

خو نظامي فتحې او بریالیتوب هیڅکله رسول الله ﷺ مغرور نه کړ، او د مکې د مشرکینو سره یې چې د ده ﷺ په وړاندې به یې د هیڅ ډول ظلم او تېرې څخه ډډه او دریغ نه کاوه د عفوې او بخښنې لار غوره کړه.

او هغه چا ته به یې چې د ده ﷺ د ېرې او هیبت څخه لړزېدی فرمایل:

هون علیک! انما انا ابن امرأة من قریش کانت تأکل القدیر[1].

آرام اوسه (مه ېرېږه)! زه د قریشو د قبیلې څخه د یوې ښځې زوی یم چې وچې یعنې د لاندې غوښې یې خوړلې.

د پیغمبر ﷺ پیغمبرانه برخورد، اخلاقو، زړه راښکونکې طریقې او اثراتو ته یې متوجه سئ، چې فرمایي: زه د یوې قریشې ښځې زوی یم چې خوراک یې وچې کړل سوې غوښې دې.

دا خبره د یو کمزوري او ګوښه نشین انسان خبره نه ده، بلکې د یو داسې مبارک شخصیت خبره ده، چې الله تعالی ﷻ پخپل رسالت

[1] د مسند احمد بن حنبل د لومړي ټوک ۱۵۳ مخ.



سره ویاړلی دئ او هغه یې د حکمت او نبوت څخه برخمن کړی دئ او د هغه پر سینه یې د بریالیتوب مډال وهلی دئ، مګر هغه ﷺ د دې پورتنۍ خبرې څخه هیڅ باک نه کوي.

نو ولې ځیني مغرور او خودکامه کسان د تکبر او ځان لوړ شمېرلو په اساس پر نورو خلکو باندې د هیڅ ډول ظلم، آزار او اذیت څخه ډډه نه کوي او پر هغوی باندې د هر ډول تعرض څخه لاس نه اخلي؟ آیا د خپل پیغمبر ﷺ دې عاجزۍ او خاکسارۍ ته نه ګوري او عبرت نه اخلي او نه اصلاح کېږي؟ او د خلکو په منځ کې خپل ځای او حیثیت نه پېژني؟

همدا ډول پر خپل ځان باندې د مناسب اعتماد او ځان بېخي کم شمېرلو او سپک نه بللو په اړوند د اسلام لار ښوونې ډېرې واضحې او روښانه دي، چې په ډېرو قرآني آیتونو کې لیدل کېږي، په ځانګړې ډول هغه مبارک آیتونه چې اسلامي امت ته روحیه ورکوي او د مسئولیت، اصلاح او آزادۍ بار یې پر اوږو ور ایږدي.

الله تعالی ﷻ فرمایي:

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ (د آل عمران سورت – ۱۱۰ آیت).

ترجمه: یاست تاسې (اې محمدي ﷺ امته) خیر (بهتر د هر هغه) امت چې ایستل سوی دئ دپاره د خلکو.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ (سورت البقره – ۱۴۳ آیت).

ترجمه: او هم داسې (لکه چې هدایت مو درته کړی) ګرځولي یاست موږ تاسې یوه ډله غوره لپاره د دې چې سئ شاهدان پر نورو

Scanned with CamScanner

خلکو.

وَلَا تَهِنُوا۟ وَلَا تَحۡزَنُوا۟ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٣٩﴾

(سورت آل عمران – ۱۳۹ آیت).

ترجمه : او مه ستړي کېږئ تاسي او مه خپه کېږئ تاسي او هم دا تاسي غالبان یاست که یاست تاسي مؤمنان (په حقه سره).

همدارنګه رسول اکرم ﷺ ډېر واضح او ښکلي فرمایلي دي:

لا یحقرن احد کم نفسه[1].

ترجمه: ستاسي څخه دي هیڅ یو ځان سپک او حقیر نه شمېري.

او بیا یې فرمایلي دي:

لا یکن احدکم امعة، یقول: ان احسن الناس احسنت و ان اساؤ و اسات، و لکن لیکن ان احسن الناس احسن و ان اساؤ و اترک الاساءة[2].

ترجمه: ستاسي څخه دي هیڅ یو داسي بې ارادې نه وي، چي ووایي: که خلک ښه وه او ښه کارونه یې کول نو زه هم ښه کوم او که خلک بد وه (او بد کارونه یې کول) نو زه هم بد یم، بلکي داسي واوسئ چي خلک ښه وه زه نو زه هم ښه یم (او ښه کارونه کوم) او که خلک بد وه (او بد کارونه یې کول) نو تاسي بد پرېږدئ (او په بدو کارونو کي د دوی پیروي او تقلید مه کوئ که څه هم دوی ډېر وي).

دا وې پر ځان او نفس باندي د اعتماد د تقویت په هکله د اسلام لارښووني.

[1] رواه ابن ماجه.

[2] رواه الترمذي.



پر ځان باندي داسي اعتماد چي د غرور، تکبر او سرکښۍ قرباني کېږي نه (بلکي دا یو ډول سنګیني، متانت او خودداري ده، چي د تکبر او غرور سره ډېر توپیر لري).

په دې اساس د لومړنیو پېړیو مسلمانانو هیڅکله ځانونه تر دې کم نه شمېري، چي د مملکت رهبر یا رئیس ته دي نصیحت ونه کړي او ځان ته یې اجازه ورکول څو د هغوی څخه پوښتنه وکړي، چي: اې امیرالمؤمنینه! دا دې د کومه راوړل؟ ځان یې کم نه شمېری د پوځ قوماندانې، د هیوادونو فتح کول او پر هغوی باندي یې حاکمیت تر ځان لوړ کار نه باله (بلکي دا هر څه یې پخپل وس کي لیدل).

اسلامي قهرمانان تر اسلام څخه مخکي نوم ورکي ځوانان وه، خو کله چي یې اسلامي روح په شخصیتونو کي سرایت وکړ، چي په نتیجه کي یې پر خپلو ورتیاوو اعتماد غښتلی سو نو د هغوی څخه داسي رهبران، مخکښان او فرمانروایان جوړ سول چي د تاریخ لوری یې بدل کړ او یو نوی سپېڅلی تاریخ یې جوړ کړ.

آیا ابوبکر صدیق رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت سعد، حضرت خالد بن ولید او عمرو بن العاص رضي الله عنهم څوک وه؟

آیا ځیني د هغوی څخه د جاهلیت په وخت کي عادي خلک، کارګر، سوداګر یا داسي جنګیالي چي یوازي یې پخپله قبیله کي شهرت درلود نه وه؟ په اسلام باندي د مشرف کېدلو او پر ځان باندي د اعتماده وروسته داسي نومیالي او بریالي قهرمانان ورځني جوړ سول، چي په تاریخ کي یې ساری نه لیدل کېږي، کارنامې او قهرمانۍ یې د ډېرو زړونه جلبوي (او د راتلونکي نسلونو لپاره د قیامت تر ورځي غوره بېلګې دي).

Scanned with CamScanner

ګرانه دوسته!

په کوم مقام او درجه کي چي قرار لرې هيڅکله ځان تر هغه په لوړ مقام او مرتبه کي مه بوله تر څو د غرور او تکبر په ناروغۍ اخته نه سې.

همدارنګه خپل ځان تر هغه څه چي يې کم هم مه شمېره، تر څو د کمترۍ د احساس په ناروغۍ او عقده باندي مبتلا نه سې.

هڅه وکړه، چي خپل واقعي ځای او مقام دي وپېژني هر وخت خپلو وړتياوو، توانمنديو او همدا ډول خپلو کمزوريو او نواقصو ته پاملرنه او توجه کوه او د الله تعالی ﷻ په وړاندي د خپلو استعدادونو شکر اداء کوه او د الله تعالی ﷻ څخه وغواړه چي استعدادونه دي نور هم زيات کړي او نورو خلکو ته هم ګټه ورسوه.

هڅه وکړه چي د دې خير او ګټي رسولو او خپل مسئوليت په خاطر پر هغوی احسان وانه چوې چي د آخرت ثواب به دي هم لړ سي او په بدنامه به هم ياد سې. هر کله چي دي پخپل وجود او نفس کي کوم (اخلاقي) عيب او نيمګړتيا وموندهء نو کوښښ وکړه چي د تربيې، تمرين او نورو علمي او عرفاني لارو يې معالجه او ليري کړې او هيڅکله يې په معالجه او اصلاح کي د ځنډ نه کار مه اخله. ځکه نفسي امراض او عيبونه د انسان د ذلت او نابودۍ سبب کېږي.

او تاسي اې د اسلامي امت بچيانو!

د نورو ملتونو په پرتله مو شمېر لږ نه دئ، تاسي په نړۍ کي د خپل رسالت او لوړو بارونو په خاطر د ډېر لوړ مقام او منزلت درلودونکي ياست، که چيري د ژوندانه لار (د اسلامي لارښوونو مطابق) په سمه توګه پر مخ بوزئ نو کولای سئ چي د مترقي،



سعادتمند او سالم ژوند درلودونکي او علمبرداران واوسئ.

او که مو ځانونه سپک، حقير او بې وسه وشمېرل نو په نړۍ کي به د هيڅ لوړ او عالي مقام او حيثيت خاوندان نه سئ او د ژوندانه په ډګر کي به د خوارۍ او ذلت سره مخ ياست، يو ځل بيا ټينګار کوم، د هغه غرور او ځان غوښتني څخه چي تاسي يې د خامو خيالونو په دام کي ګير کړي ياست، پرهېز وکړئ او همدارنګه د حقارت د احساس څخه کوم چي ستاسي او ستاسي د کار، فعاليت او هڅو تر منځ لوی خنډ دئ ځان وژغورئ او هر وخت پر هغه لار حرکت وکړئ، چي د الله تعالی ﷻ دغه فرمان ستاسي په هکله تحقق ومومي، لکه چي فرمايي:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝ (سورت القصص – ۵ آيت).

ترجمه: او اراده مو ده د دې چي منت احسان کېږدو پر هغو کسانو چي ضعيفان کړل سوي وو په ځمکه کي او چي وګرځوو موږ دوی امامان (د دارينو مقتدايان) او وګرځوو موږ دوی وارثان (د قدرت او حکومت).

Scanned with CamScanner

# نه بخيلي او نه اسراف کاري

د دنيا او ژوندانه لمن که هر څومره پراخه ده خو د انسانانو برخه ډېره پکښې کمه ده او هغوی د ډېر لږ فرصت درلودونکي او د دنيا د دې پراخو نعمتونو څخه يې ډېر لږ نعمتونه او ګټې په اختيار کې دي.

ستاسي عمر چي هر څومره اوږد هم سي خو د تېر او راتلونکي وخت په پرتله د ميليارد په مقابل کې د يوه عدد حيثيت لري او تاسي چي هره اندازه د نعمتونو او امکاناتو څخه استفاده وکړئ يوازي د خپلو حدودو، امکاناتو او اوضاع مطابق ورڅخه برخمن کېدای سئ (او تر هغه اضافه نه سئ کولای مثلاً تاسي به څومره خواړه وخورئ او يا به څومره پيسې ټولي کړئ) دومره شی (د دنيا) د تېر سوو او راتلونکو نعمتونو او امکاناتو په مقابل کې ډېر لږه اندازه څه دي.

په هره اندازه چي مال او دارايي ذخيره او ټوله کړئ بيا هم د دې پراخې نړۍ د اموالو په پرتله لکه د سمندر په مقابل کې يو څاڅکی او بل دا چي د عمر د اندازې تعين د ژوند د خوندونو څخه استفاده او د مال او دارايۍ پايښت د انسان په وس او اختيار کې نه دئ. کله ناڅاپه او د مخکنۍ اطلاع او خبردارۍ څخه وړاندي د دې دنيا سره مخه ښه وکړي او د مرګ سره مخامخ سي او په ډېرو مواردو کې د ناروغۍ او يا بل څه په خاطر د ژوند د خوندونو او پيسو څخه لازمه استفاده نه سي کولای او ډېر ځله د غير پېشبيني سوو حوادثو او پېښو په نتيجه



کې فردي او يا عمومي ثروت او دارايي ټوله له منځه ځي او نابودېږي.

د الله تعالی ﷻ دا قول ښخي رشتيا دئ، چي فرمايي:

ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ (سورت الملک، ۱٦-۱۷ آيتونه).

ترجمه: آيا مأمون ډاډه سوي ياست تاسي له هغه (الله ﷻ) څني چي په اسمانونو کې دئ (په زعم ستاسي اې منکرانو) چي راپورته به کړي پر تاسي باندي مځکه (او ډوب به مو کړي پکښې) بيا به (ناڅاپه) هلته دا (مځکه) ولړزېږي. آيا مأمون ډاډه سوي ياست تاسي له هغه (الله ﷻ) څني چي په آسمانونو کې دئ (په زعم ستاسي) له دې نه چي وبه لېږي پر تاسي کاڼي ويشتونکی باد نو ژر ده چي پوه به سئ تاسي چي څرنګه و وېرول زما.

أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ ٱلْكَٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ ﴿٢٠﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ ۚ بَل لَّجُّوا۟ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ (الملک سورت: ۲۰ - ۲۱ آيت).

ترجمه: آيا څوک دئ هغه (ذات) چي هغه لښکر ستاسي سي کوم مرستي مدد وکړي له تاسي سره (هيڅوک مو مددګار نسته) بې له رحمانه نه دي کافران مګر خو په غرور غولېدلو کې دي.

آيا څوک دئ هغه (ذات) چي رزق درکړي تاسي ته که چيري بند

کړي (الله ﷻ) در څخه رزق خپل (هیڅوک مو بې له الله ﷻ رازق نسته) بلکي ننوتلي او محکم سوي دي د دوی په سر کي عناد او تېښته نفرت کي (له حقه).

ټول انسانان دغه حقايق درک کوي، خو د دغو حقايقو څخه په ګټه اخيستنه کي سره متفاوت دي. ډېری يې په دې باور دي، چي د ژوند د خوندونو څخه بايد په لنډ عمر کي اعظمي (ډېره) استفاده او ګټه واخيستل سي. په همدې خاطر خپل ټول (لنډ) عمر د هر څه ډېر خوند اخيستني او پيسو ټولولو په لار کي ضايع او برباد وي. يو شمېر يې د مال، دارايۍ او پيسو راټولول (هغه که د هري لاري روا او ناروا وي) د ژوند اصلي هدف ګڼي او خپل ټول وخت يې د زياتو څخه زياتو پيسو ټولولو ته ورکړی وي او نور يې د پيسو د ګټي او خير څخه محرومه کړي وي.

داسي بخيل او سخت انسانان هم موجود دي، چي قصداً او په لوی لاس يې ځان د ژوند د (مشروع) نعمتونو څخه محرومه کړی وي (د زهد څخه نه بلکي د بخيلۍ څخه).

او د بېوزلو او فقيرانو په شان ژوند تېروي، د هغو شيانو څخه چي لري يې ګټه نه اخلي او د خپل ژوند څخه (روا) خوند نه اخلي.

د لږ شمېر انسانان دي چي د انسان د لنډ عمر څخه د خلکو د خدمت او هغوی ته د خير او ګټي رسولو کار اخلي او د خپل خدای ورکړي مال او دارايۍ څخه و خپل ځان او خپلي ټولني ته د خير او ګټي رسولو په خاطر استفاده کوي.

دا ډول انسانان که څه هم عمر يې لنډ وي، خو بيا هم د واقعي او خوندور ژوند څخه برخمن دي، که څه هم خپله دارايي د لاسه ورکړي



مګر بيا هم د واقعي شتمنو څخه شمېرل کېږي.

يو څو دنياوي او ناروا خوندونه يې پرې ايښي او دلاسه ورکړي وي خو اصلي خوشبخت او بريالي همدوی وي. نو په دې اساس بخل او شومتيا ډېره خطرناکه ناروغي ده چي په دې مرض مبتلا کس ژر تر ژره د ښو نه غورځوي. حتى ځيني بخيل انسانان دي چي د خپلو اړتياوو لکه مناسب خوراک، پوښاک، خوب او داسي نورو څخه هم ځان محروموي او هغه په اسراف کي شمېري. د داسي خلکو مثال هغه کس ته ورته دئ چي د خپل کور کړکۍ د لمر د وړانګو په وړاندي بندي او د تازه هوا د مصرف د مخنيوي په خاطر د خپل تنفس کولو مخه نيسي.

يوه ورځ رسول الله ﷺ يو سړی په ډېر زړه جامه او لباس کي وليد، نو د هغه سره يې لاندي سوال او جواب وفرمايه:

آيا ته مال او دارايي لرې؟

هغه وويل: هو! لرم يې!

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: څه ډول مال لرې؟

هغه وويل: سره زر، سپين زر، اوښان او پسونه لرم.

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: په دې صورت کي دا ښه دئ چي د الله تعالى ﷻ د نعمتونو نښي او آثار په تا کي وليدل سي (او مناسبه جامه واغوندې).

ځکه الله تعالى ﷻ په دې خوشحالېږي چي د خپلو نعمتونو آثار پخپل بنده کي ووينې[1].

---

[1] رواه الترمذي و الحاكم.

بل طرف ته بيا د پرو کسانو د افراط لاره غوره کړې ده. داسي چي ځان او خپله کورنۍ يې په اسراف، بې ځايه لګښتونو، نامشروع او ناروا غوښتنو او د ژوند په مختلفو خوندونو، شهوتونو او ښايست او تجمل کي تر ستوني غرق کړي دي، د نورو خلکو او خپلي ټولني د مشکلاتو په اړوند بېخي بې تفاوته او ناخبره دي.

که کوم وخت د خير، احسان او بېوزلو غريبانو سره د مرستي او همکارۍ ضرورت پېښ سي او د دوی څخه مالي مرسته وغوښتل سي نو مختلفي بهانې او عذرونه کوي.

د خپل تجارت، کاروبار او تاوانونو څخه دومره سر ټکوي او داسي ځان بېوزلی او اسکړلی و تراشي چي ته به وايې دی صدقې او خيرات ته ضرورت لري.

متأسفانه په اسلامي ټولنو کي هم د داسي اشخاصو شمېر خورا پر ډېرېدو دئ، په هر وخت او ټولو مواردو کي چي د اسلامي دعوت (مداسو، مسجدونو، تبليغ او جهاد) خيريه ټولنو او عمومي منافعو پروګرامونه او طرحي چي د مالدارو او بډايانو مرستي او حمايت ته اړتيا پيدا کوي، نو ليدل کېږي، چي دغه کسان ځانونه کاڼه او ناخبره اچوي.

دا ډول وګړي د يوې ټولني لپاره تر ټولو لوی مصيبتونه او ناوړه بلاوي دي، د دوی خودپرستي او ځان غوښتنه د ټولني د هلاکت لپاره ډېر بد عوامل او د ستونزو د زېږېدو اسباب دي.

خو همدغه کسان د د ودونو او خوښيو په مراسمو، د پيسو، مقام او قدرت خاوندانو ته په مېلمستياوو او نورو بې ځايه مېلو (يا په نوې اصطلاح پارټيو کي) خورا ډېر مصرفونه کوي او حاتم طايي



غوندي سخيان وي، تر څو د سخاوت او خرابات نوم او آوازه يې خپره سي او يا په دې کار سره د پيسو او قدرت خاوندانو ته ځانونه ور نژدې کړي.

مګر د بېوزلو، غريبانو او نورو خيريه کارونو لپاره و هيڅ نوع مرستي او همکارۍ ته نه حاضرېږي.

د دوی د دې کار علتونه دوه دي:

لومړی: کومي د ثواب او اجرونو وعدې چي الله تعالی ﷻ د صدقې ورکوونکو ته او د الله ﷻ په لار کي د خپلو مالونو د مصرفوونکو بنده ګانو سره کړي پر هغو (وعدو) د ايمان ضعف او کمزوري، همدارنګه د شيطان د هغو وسوسو متابعت کوم چي د دوی د فقر، بېوزلۍ او غريبۍ څخه بېروي، د خلکو سره احسانونه کول د الله تعالی ﷻ په لار کي مصرفونه کول د مفلسۍ اسباب ګڼي.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

ٱلشَّيْطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ۝ (سورت البقره – ۲۶۱ آيت).

ترجمه: شيطان وعده درکوي تاسي ته د خوارۍ (او وېروي مو چي خوار به سئ) او حکم کوي تاسي ته په (کولو د) ناوړو (غلطو) کارونو (لکه بخل) او الله ﷻ وعده کوي ستاسي سره د مغفرت (د ګناهونو) له خپله لوري او د فضل (د اتفاق په بدل کي) او الله ﷻ پراخ دئ (رحمت، فضل او احسان د ده) ښه عالم دئ (پر ټولو احوالو).

Scanned with CamScanner

دوهم: په دوی کي د ټولنیز مسئولیت، احساس د منځه تلل او د خودپرستۍ (یوازي ځان غوښتني) وژونکي ناروغي ورباندي مسلطېدل. دوی فکر کوي چي د یوازي ژوند کولو لپاره پیدا سوي دي او کوم مال او دارایي چي دوی یې لاس ته راوړي دا یوازي د دوی د لاس او کوښښ نتیجه ده او دا چي یوازي د خپل ځان او خپلي کورنۍ په اړه مسئولیت لري او بس.

همدارنګه دوی فکر کوي چي که څه هم د دوی په شاوخوا کي نور خلک په فقر او لوږه کي وي د دې سره سره دوی کولای سي چي آرام او آسوده ژوند وکړي.

خو که ښه غور او فکر وکړئ نو وبه پوهېږئ چي د نورو سره په ګډه او یو ځای د ژوند کولو لپاره پیدا سوي دي او کوم مال او دارایي چي په لاس کي یې لري د نورو په همکاري یې تر لاسه کړېده.

دوی ته به معلومه سي چي د نورو خلکو سره د همدردۍ د احساس د لاسه ورکول او د هغوی مشکلاتو ته نه پاملرنه تر هر ډول فقر او محتاجۍ ډېري بد دي تر دې چي د معنوي مرګ عامل او د اجتماعي اخلاقو د نېستۍ او ورکېدو سبب ګرځي.

حضرت رسول اکرم ﷺ په دې هکله فرمایلي دي:

ما آمن بي من بات شبعان و جاره جائع الى جنبه و هو يعلم به[1]

ترجمه: هغه چا پر ما ایمان نه دئ راوړی چي د شپې په ماړه نس د خوب په بستر ننوزي او په دې خبر وي چي ګاونډی یې وږی دئ.

او فرمایلي یې دي:

(۱) رواه البزاز و الطبراني.



عن نعمان بن بشير قال سمعت رسول الله ﷺ يقول مثل المؤمنين في توادهم و تراحمهم و تعاطفهم كمثل الجسد الواحد اذا اشتكي عضو منه تداعى له سائر الاعضاء بالحمى و السهر[1].

ترجمه: د حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه څخه روایت د،ئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د مسلمانانو مثال په خپلو، زړه سوي او همدردۍ کي د یوه بدن دئ کله چي د جسم یو اندام درد پیل کړي ټول جسم ورسره بېخوبه او ناقراره سي.

همدارنګه فرمایي: من لم يهتم بأمر المسلمين فليس منهم[2].

یعني څوک چي د مسلمانانو پوري مربوطه کارونو ته اهتمام او توجه نه کوي هغه د هغوی څخه نه دئ.

د یوې سالمي ټولني د علایمو او نښانو څخه یوه علامه دا ده، چي افراد یې پخپل شخصي او کورني ژوند کي په معتدله او معقوله طریقه خرڅ او مصارف کوي، خپل ضروریات د کفایت تر حده پوره کوي، خو په ټولنیز ژوند کي په پراخ لاس او سخیانو غوندي عمل کوي، په روغ نیت د بخشش او خیر په کارونو کي حد او مرز نه پېژني. کوم انسانان چي په ننني متمدنه نړۍ کي ژوند کوي هغوی باید دغه لار خپله کړي چي د امکان تر حده په شخصي او کورنیو مصارفو او خرڅونو کي د سپما څخه کار واخلي.

په عین پیسه دارۍ کي دي متوسط لباس واغوندي او په متوسط کور کي دي واوسېږي. خو د مسجدونو، مدارسو، د یتیمانو

(۱) رواه مسلم.
(۲) المعجم الاوسط.

Scanned with CamScanner

د پالن ځايونو، روغتونونو، علمي او تحقيقاتي مراکزو په تأسيس او جوړولو کي دي په پراخ لاس خرڅ او مصرف وکړي او خپل ژوند دي داسي کارونو ته وقف کړي.

نو دلته دئ چي ملتونه د علومو، آدابو، اخلاقو، ټولنيزو او اقتصادي تحقيقاتو په ډګر کي د پرمختګ لار وهي او مخ په وړاندي ځي. په ډېرو ټولنو کي ډېرو انسانانو همدا لاره غوره کړې چي انصافاً بايد د دوی دغه کار ته په درنه سترګه وکتل سي او کوم اختلاف چي زموږ او د دوی تر منځ موجود دئ د دې اعتراف مانع نه سي کېدای.

خو د دې ښکاره حقيقت يادونه ضروري ده چي د ټولو دينونو او فکرونو څخه وړاندي د اسلام دين په ډېره لوړه کچه انسانان و نېکو اخلاقو او عالي خويونو ته رابللي دي او د هغو په سيوري کي يې مسلمانان هغو ته هڅولي او روزلي دي چي په نتيجه کي يې داسي بهترين امت تربيه کړ چي ساری يې نه و.

د بېلګې په توګه ټول پوهېږو چي اسلام د شخصي او کورني ژوند په خرڅ او مصارفو کي د اعتدال او ميانه روۍ لارښوونه او امر کړی دئ او د بې ځايه خرڅ، اسراف او بخل څخه يې منع کړېده.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴿٢٩﴾ (سورت اسراء – ۲۹ آيت).

ترجمه: او مه ګرځوه (مه نيسه) لاس خپل (لکه) تړل سوی تر غاړې ستا (يعني بخل او شومتيا مه کوه) او مه يې غځوه په ټېخي غځولو سره (يعني اسراف هم مه کوه) نو کښېنې به ته ملامت کړل سوی.



او فرمايي:

وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ﴿٦٧﴾ (سورت الفرقان – ٦٧ آيت).

ترجمه: او (بندګان د رحمن) هغه کسان دي کله چي نفقه ورکوي مال لګوي نو نه اسراف کوي او نه تنګي (او بخل) کوي او وي دغه ورکړه د دوی) په منځ د دغه (اسراف او تقتير بخل) کي ميانه حاله.

بل ځای فرمايي:

وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾ (سورت الاعراف – ۳۰ آيت).

ترجمه: او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځايه خرڅ) مه کوئ تاسي، بېشکه چي الله ﷻ نه خوښوي مسرفان (بې ځايه خرڅ کوونکي).

رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:

ولاتسرف ولو کنت علی نهر جار[1].

د اوبو د اسراف څخه ډډه وکړه که څه هم د روان سيند پر غاړه يې.

مګر د ټولنيز ژوند په هکله او په خاصه توګه د بېوزلو او غريبانو د مشکلاتو په حل کولو او په نورو د خير او عامه ګټو په کارونو کي هيڅ ډول ډېر خرڅ او مصرف بد نه دئ او په اسراف کي نه شمېرل کېږي، ځکه په دې لار کي په روغ نيت هر څومره لګښت چي وسي هغومره د انسان د اجر، ثواب او کرامت د لوړېدو سبب کېږي.

---

[1] رواه ابن ماجه.

الله ﷻ فرمايي:

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

(سورت البقره - ۲۷۴ آيت).

ترجمه: هغه کسان چي صرفوي مالونه خپل (د الله ﷻ په لاره کي) په شپه او په ورځ کي په پټه او په ښکاره سته دوی ته اجر ثواب د دوی په نزد د رب د دوی، او نسته (هيڅ ډول) وېره پر دوی باندي او نه به دوی هيڅکله غمجن کېږي.

د دې ډول لګښتونو او مصارفو ګټه تر ټولو ډېره خپله احسان کوونکي ته رسېږي.

وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ (سوت البقره - ۲۷۲ آيت).

ترجمه: او هر هغه شی چي صرفوئ يې تاسي د خيره (د مال نه) نو لپاره د نفسونو (ځانونو) ستاسي دي. (يعني ګټه يې تاسو ته در رسېږي).

داسي انفاق او احسان چي د خپل خاوند په باطن کي د هغه د نېکۍ او خير غوښتني ښکارندوی وي.

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ (سورت البقره - ۲۶۵ آيت).

ترجمه: او مثال صفت د هغو کسانو چي صرفوي مالونه خپل



لپاره د طلب د رضا د الله او لپاره د ثبات (د زړه او صدق چي پيدا دي) د نفسونو د دوی څخه (په ايمان باندي) په شان د يوه باغ دي په لوړه ځمکه (مستعد مأمونه) باندي چي ورسېږي دې باغ ته زوره ور باران نو ورکړي مېوې خپلي دوچنده نو که ونه رسېږي دې باغ ته زوره ور باران نو نری باران کافي دئ، او الله ﷻ په هغو شيانو چي تاسي يې کوئ ښه ليدونکی دئ.

دا ډول د خير چلند د الله ﷻ پر وعدو او اجرونو د پوخ ايمان او اطمينان علامه او د الله ﷻ د رضا د حاصلولو د هغه ﷻ څخه د ثواب غوښتلو ډېره علاقه او شوق دئ.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ (سورت البقره : ۲۷۲)

ترجمه: او نه مصرفوئ تاسي (اې مومنانو) مګر (صرفوئ يې) خاص لپاره د طلب د رضا د الله ﷻ.

خو بخيلي کول او د خير او عامه ګټو په ځايونو کي سرمايه ګذاري او لګښت نه کول د مالدار سړي او هغې ټولني لپاره کوم چي دی يکښې اوسېږي په درانه زيان تمامېږي.

دا کار به د دنيا او آخرت د عذاب او خوارۍ لوی سبب وي.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ

Scanned with CamScanner

لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾ (سورت البقره، ۳۴ - ۳۵ آیتونه).

ترجمه: او هغه کسان چي خزانه کوي سره زر او سپین زر او نه لګوي هغه په لار د الله کي (د دین د ترقۍ لپاره) نو زېری ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره، په هغه ورځ چي سختي سرې ګرمۍ به کړل سي دغه خزانې په اور د جهنم کي نو داغل کېږي به په هغه سره تندی د دوی او اړخونه د دوی او شاوي د دوی (او وبه ویل سي دوی ته) دا هغه شی دئ چي خزانه کړي وه تاسي لپاره د ځانونو خپلو نو وڅکئ تاسي (خوند د سزا) د هغه مال چي واست تاسي چي خزانه کاوه به مو.

حضرت رسول اکرم ﷺ خپل اصحاب رضي الله عنهم او هغوی نور خلک د نیکو او عالي اخلاقو په اساس وروزل او هماغو عالي او نېکو اخلاقو د سخاوتنو او نېکیو لپاره لار هواره کړه.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه پخپل شخصي او کورني ژوند کي د خوراک او پوښاک له لحاظه ډېر ساده ژوند کاوه، خو کله چي د تبوک په غزا کي د مصارفو او تجهیزاتو لپاره د مسلمانانو مرستي ته اړتیا پېښه سوه او رسول اکرم ﷺ خلک مرستي ته تشویق کړل نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه خپله ټوله دارایي د پیغمبر ﷺ حضور ته راوړه.

پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: ما أبقیت لاهلک[1].

یعني کور او اهل ته دي څه شي پرېښودل؟

حضرت صدیق رضي الله عنه وفرمایل: هغوی ته مي الله تعالی ﷻ او د هغه رسول ﷺ پرې ایښي دي.

[1] جامع الترمذي، دوهم ټوک ۲۰۸ مخ.



حضرت عمر رضي الله عنه هم خپل نیمایي مال راوړ، حضرت عثمان رضي الله عنه هغه تجارتي کاروان چي د شام د تجارت لپاره تیار کړی و، ټول رسول الله ﷺ ته ورکړ، په دې کاروان کي دوه سوه اوښان، دوه سوه اوقیې یعني ۲۹/۵ کیلو ګرامه سپین زر دا یې ټول د الله ﷻ په لاره کي صدقه کړل. ښځو هم چي څه درلودل حاضر یې کړل چا به مشک راوړل، چا پایزېب، پنګړي، امېلونه، ګوتمۍ او داسي نور. لنډه دا چي مسلمانانو د الله ﷻ په لار کي د مال او دارایۍ په خرڅولو کي یو تر بله سیالي کوله، د هر یوه هیله دا وه، چي زیات اجر او ثواب وګټي.

کله چي د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کي قحطي رامنځته سوه، نو په دغه وخت کي د حضرت عثمان رضي الله عنه د زرو (۱۰۰۰) اوښانو په تعداد یو تجارتي کاروان چي د خوراکي موادو او جامو څخه بار و د شام څخه را روان و، چي د قحطۍ په وخت کي یې ارزښت خورا ډېر و.

د مدینې منورې تجاران او سوداګران چي مدینې ته د تجارتي کاروان د رانژدې کېدو په جریان کي وه، حضرت عثمان رضي الله عنه ته راغلل چي را رسېدونکي مالونه ورڅخه خریداري کړي.

حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وویل: څو په سلو کي ګټه راکوئ؟

هغوی وویل: پنځه په سلو کي.

حضرت عثمان رضي الله عنه وویل: داسي څوک سته چي اضافه ګټه راکړي؟

هغوی وویل: شپږ په سلو کي.

حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وویل: زه داسي څوک پېژنم چي د دې څخه زیاته ګټه راکوي.

هغوی ګټه لس په سلو کي پورته کړه.

ده ورته وويل: هغه تر تاسي ډېره ګټه راکوي.

هغوی وويل: موږ خو هيڅ تاجر نه پېژنو چي تر دې اضافه ګټه درکړي. موږ چي کوم تجاران پېژنو هغه ټوله دلته حاضر دي او قافله هم مدينې منورې ته داخلېدونکې ده، نو دا سوداګر څوک دئ چي تا ته تر دې اضافه ګټه درکوي؟

حضرت عثمان ؓ ورته وويل: ما داسي څوک پيدا کړی دئ چي پر هر درهم باندي اووه درهمه ګټه راکوي، او تر هغه اضافه، آيا د الله تعالی ﷻ دا مبارک قول مو نه دئ اورېدلی چي فرمايي:

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّا۟ئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ (سورت البقره –۲۶۱ آيت).

ترجمه: مثال (صفت د نفقې او ورکړې) د هغو کسانو چي صرفوي مالونه خپل په لاره د الله ﷻ (په جهاد او نورو عبادتونو) کي په مثل د يوې دانې د تخم دئ چي زرغونه کړي دا (دانه) اوه وږي په هر يوه وږي کي سل دانې وي او الله ﷻ زياتوي (اجر) لپاره د هغه چا چي اراده وکړي (اجر د زياتولو) او الله ﷻ پراخ دئ (احسان، فضل او رحمت دده) ښه عالم دئ.

بيا يې وويل: تاسي يې ټوله پر ما شاهدان چي زه د هغو زرو اوښانو بارونه ټول د الله تعالی ﷻ په لار کي خيراتوم او پر مسلمانانو يې تقسيموم.



دا ده د شتمن او پيسه داره مسلمان نمونه، داسي څوک چي په رښتيا سره کولای سي چي د ټولو مالداره او پيسه داره مسلمانانو لپاره غوره نمونه او مثال وي.

يوه ورځ حضرت علي ؓ او حضرت فاطمه ؓ د داسي غذا په خوړلو بوخت وو، چي ډېره لږه وه او د دوی لپاره يې هم کفايت نه کاوه، چي په دې وخت کي يو سوالګر او فقير راغی او دروازه يې وټکوله، هغوی خپل خواړه هغه فقير ته ورکړل او خپله وږي کښېناستل تر څو دغه مبارک آيت د دوی په هکله نازل سو، چي:

وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ (سورت الحشر –۹ آيت).

ترجمه: او غوره کوي مقدموي يې پر خپلو ځانونو که څه هم وي پر دوی باندي تنګي (او لوږه).

يو مسلمان بزګر چي ټوله شپه يې د نورو خلکو باغونه په مزدوري اوبه ول ټوله شپه په کار بوخت و، کله چي سهار سو او خپل کار يې خلاص کړ، نو د باغ خاوندان د ده مزدوري چي دوې پيمانې اوربشي وې ورکړې.

هغه سمدستي هغه دوې پيمانې اوربشي د رسول الله ﷺ حضور ته راوړې او ويې ويل: يا رسول الله ﷺ! دا زما د تېري شپې د کار مزدوري ده، چي يوه پيمانه يې خپل کور ته ورم او يوه پيمانه يې تاسي ته درکوم، څو زموږ بېوزلو مسلمانانو ورونو ته يې ورکړئ.

دا هم د يو غريب کار مسلمان غوره نمونه او مثال.

يوه ورځ حضرت عايشه ؓ ټول هغه يو لک درهمه چي د هديې

[illegible] په داسې حال کې چې خپله يې هم اړتيا ورته [illegible] په حالت کې چې [illegible] [illegible]

[illegible] چې د کور په کارونو کې يې د ډېر سره [illegible] [illegible] چې د روژه مات د تيارولو لپاره دي [illegible]؟

[illegible] ﷺ چې د نورو خلکو په خاطر خپل ځان ځنې تېر [illegible] ورته [illegible] تقسيم [illegible] به دې راته ويلي وای، چې يو څه مې د روژه [illegible] لپاره پرېښي وای.

[illegible] مسلمانو ښځو د سخاوت او بخشش يوه نمونه.

[illegible] اجتماعي مسئوليتونو د احساس او سخاوتونو نتيجه وه [illegible] اسلام کې به ډېرې مدرسې، مسجدونه او نور جوړ شول، ډېر [illegible] وقف شول، د مسافرو او اړو لپاره د اوسېدو کورونه جوړ شول [illegible] اخلاق وو، چې مسلمانان په ټولو خيره او عام المنفعه [illegible] کې د وقف د لارې تر نورو ملتونو وړاندې او د ملتونو په تاريخ کې [illegible].

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«يقول ابن آدم: مالي مالي! وانما لک من مالک ما اکلت او لبست او تصدقت، وما بقي من ذلک فهو لورثتک»[1].

يعنې: بني آدم (انسان) وايي: زما مال او زما دارايي. خو په دې خبره بايد وپوهېږو چې ستا مال او دارايي هغه ده چې ويې خورې،

[1] رواه مسلم.



وايې غوندې او صدقه يې کړې او هغه چې د ړخخه پاته سي هغه دې د وارثانو دي.

همدارنګه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: په تاسي کي داسي څوک سته چي د وارث د مال سره تر خپل مال ډېره مينه ولري؟

هغوی وويل: يا رسول الله ﷺ په موږ کي هيڅوک داسي نسته بلکي موږ د خپلي دارايي سره ډېره مينه لرو.

پيغمبر ﷺ وفرمايل: نو ستاسي مال هغه دئ چي پخپل ژوند کي يې د خيرا و احسان په لاره کي صدقه او د ده د وارث دارايي هغه ده چي د ده تر مرګ وروسته هغه ته پاته سي.

کوم چا يو پسه د هديې په ډول رسول الله ﷺ ته راوړ، د پيغمبر ﷺ کورني هغه ذبح کړ او د يوه وورن پرته يې نور ټول پر بېوزلو تقسيم کړ او پيغمبر ﷺ ته يې وويل: نور مو ټول خيرات کړ او يو وورن پاته سو.

رسول اکرم ﷺ ورته وفرمايل: نه دا ده چي داسي ووايا ست: چي ټول پاته دئ د يوه وورن څخه پرته.

د پيغمبر ﷺ مطلب دا و، چي هغه مالونه د خپل خاوند لپاره پاتېدونکي دي چي خيراتوئ يې او هغه چي خورئ او اغوندئ يې يا وارثانو ته پاته کېږي هغه مو په درد نه خوري.

# ځان غوښتنه

# که ځان تېرېدنه (قرباني)


آیا انسان یو خودخواه او ځان غوښتونکی مخلوق دئ او د خپل ځان سره تر هرچا او هر شي ډېره مینه لري او خپل خیر او مصلحت ته د نورو پر مصلحت او خیر ترجیح ورکوي؟

یا داسي مخلوق دئ چي د نورو په وړاندي سخت د مسئولیت احساس کوي او د هغوی مصلحتونو ته پر خپل مصلحت وړاندي والی ورکوي؟

دا موضوع ډېره پراخه او مفصله موضوع ده، چي د ارواپوهني، ټولنپوهني او اخلاقي علومو د ډېرو کتابونو پاڼي یې ځانته ځانګړې کړي دي.

تقریباً ډېری په دې هکله د نظر یووالی لري چي انانیت (ځان غوښتنه) تر ډېره حده د انسان په خټه او طبیعت کي وجود لري، حتی ځیني یې په اړه د مبالغې نه کار اخلي او وایي، چي: کله ناکله که کومي قرباني او فداکاري د ځینو انسانانو څخه لیدل کېږي، په یو ډول نه یو ډول هغه انانیت او خودخواهي وي چي پر څېره یې د قربانۍ او ځان تېرېدني نقاب پروت وي.

د مثال په ډول هغه څوک چي د خپلي عقیدې او هیواد د دفاع په





خاطر د جنګ ډګر ته داخلېږي، دا کار یا د الله تعالی څخه د اجر او ثواب د لاسته راوړلو په خاطر کوي یا په خلکو کي د شهرت او د هغوی له خوا د ستاینې او یا هیواد او ټولني د امنیت او کرامت د ساتني په خاطر کوي تر څو په نتیجه کي یې دی پخپله هم د امنیت او هوساینې څخه برخمن سي.

په هر صورت د دې حقیقت څخه هم انکار نه سي کېدای چي انسان طبیعتاً یو اجتماعي موجود دئ، هر وخت د نورو سره همکارۍ ته تمایل لري او ټولنیز ژوند ته پر ګوښه توب ترجیح ورکوي. نو د دې کار غوښتنه او تقاضا دا ده چي د نورو لپاره د خپلو ځینو حقوقو څخه تېر سي او صرف نظر وکړي، تر څو د نورو سره د همکارۍ په ترڅ کي د خپل وجود، کرامت او مصالحو څخه هم ساتنه وکړي. نو په دې اساس ځیني فداکارۍ او ځان تېرېدني د ټولنیز ژوند د هغو ضروریاتو په شمېر کي راځي چي د هغو څخه پرته سالم او سعادتمند ژوند امکان نه لري.

د مثال په ډول که چیري یو انسان په لارو کي د تګ راتګ په وخت کي خپله آزادي محدوده نه کړي او د وضعه سوو (ترافیکي) مقرراتو پابند نه وي نو نه سي کولای چي پر واټونو د حرکت په وخت کي خپل جسمي امنیت تأمین او تضمین کړي.

همدارنګه که انسان د معاملاتو او اقتصاد په ډګر کي خپل ځان د قوانینو تابع نه کړي نو هیڅکله نه سي کولای چي د نورو سره په معاملاتو کي ګټه تر لاسه کړي او د خپلي سرمایې او مال په اړه د امنیت احساس وکړي.

نو په دې صورت کي د اسلامي شریعت د احکامو او قوانینو

Scanned with CamScanner

روح د يوې خوا د افرادو د حقونو تضمين كوي او د بله پلوه د دوی آزادي محدودوي او دې قوانينو او احكامو ته التزام او پابندي خپله په يو ډول قرباني او ايثار كي شمېرل كېږي.

كه څه هم (په ځينو مواردو كي) به د شريعت د نظر د كوم اخروي اجر درلودونكي نه وي او يا به د ده كار د اهل اخلاقو د نظره كوم تعريف او ستاينه ونه لري خو په هر حال و هغو احكامو او قوانينو (لكه ترافيكي او نور) ته التزام او پابندي د يو سالم اجتماعي نظام تضمينوونكي دئ.

او د نورو خلكو مصلحتونو او ګټو ته پر خپلو شخصي مصالحو برترئ او وړاندي والی وركول او د دوی لپاره ځان تېرېدنه د ټولو دينونو او شريعتونو په نزد ډېر ستايل او مطلوب كار دئ او اهل اخلاق په ارزښت ورته قايل دي.

ځكه فداكاري او ايثار يو اختياري كار دئ او د قانون او مقرراتو د سلطې نه لاندي كېږي او د لنډمهاله يا اوږدمهاله مصلحتونو د تحقق په خاطر منځته نه راځي او د كوم لنډ او ژور تېرېدونكي لذت لپاره نه تر سره كېږي. بلكي كله ناكله فداكار شخص خپل ځان د نعمتونو، خوندونو او هوسايني څخه محرومومي او د نورو د هوسايني او آسوده ګۍ لپاره خپل ځان د سختي لوږې، تندي او حتی مرګ سره مخامخ كوي.

د الهي اجر او ثواب، د نورو د ستايلو او د ښايست او جمال اميد او هيله، ايثار او فداكاري د منځه نه وړي. ځكه اجر او ثواب او د خلكو په منځ كي ښه نوم د معنوي كارونو څخه دئ چي د انسان د ضمير او باطن څخه سرچينه اخلي.



كوم څوك چي د يو معنوي كار لپاره مادي او محسوس كارونه د خلكو د خير او ګټي په خاطر قربانوي په حقيقت كي دا خبره په اثبات رسوي چي هغه د داسي يو نفس او شخصيت خاوند دئ چي د خپلي منفعت طلبۍ څخه وړاندي د ايثار او فداكارۍ په فكر كي دئ، چي د ده دا كار او طريقه د خلكو د دوستۍ او د هغوی د خير خواهۍ د ډېري لوړي مرتبې او انګېزې وياندويي كوي.

موږ د الله تعالی ﷻ څخه او د هغه څخه را لاندي (ځكه چي حقيقي منعم هغه دئ) د ژوندانه د ټولو مادي او معنوي نعمتونو څخه د استفادې په خاطر د ټولو هغه كسانو چي د هيڅ ډول كوښښ او فداكارۍ څخه يې كوتاهي نه ده كړې پوروړي او احسان منونكي يو.

موږ د الله تعالی ﷻ د تر ټولو لوی نعمت يعني ايمان او اسلام څخه د استفادې او مشرفېدو په خاطر د حضرت محمد ﷺ څخه او د هغه څخه را لاندي د ټولو صحابه رضوان الله عليهم اجمعين، تابعينو، د دين د امامانو، علماوو، صالحانو، مشايخو او نيكانو خورا ډېر پوروړي او احسان منونكي يو، كوم چي په ډېرو خواريو، سختيو، قربانيو او بې ساري هڅو يې د اسلام دين تر موږه پوري رارسولی دئ.

موږ د علم، پوهي او معرفت څخه د استفادې په خاطر د ټولو علماوو، مفسرينو، محدثينو، فقهاوو او اديبانو سخت پوروړي يو كوم چي د خپلو قلمونو په واسطه يې د (زرونو) كتابونو پاڼي د حكمت، علم، معرفت او لارښوونو څخه ډكي كړي دي.

كله چي نور به د غفلت په خوب ويده او په خوندونو كي غرق وه، دوی به د مختلفو سختيو او بيدارخوبيو په تحمل سره كار او تلاښ

Scanned with CamScanner

کاوه.

موږ د برېښنا، موټرو، اورګاډو، الوتکو او نورو وسایلو او وسایطو څخه د استفادې په خاطر د هغو کسانو پوروړي یو چې کلونه کلونه یې د آزمایښتونو لپاره د کارخانو او کورونو په چاردېوالیو کې په تحقیق او سختو څېړنو او اختراعاتو بوخت وه تر څو پر ځان باندې د زحمتونو د ګاللو په بیه یې د نړۍ د میلیونونو انسانانو لپاره راحت، هوسایي او سلامتي راوړه او بالاخره موږ د خپل هیواد د مځکو، خیریه ادارو، د خیر او منافعو څخه د استفادې په خاطر د خپلو پلرونو او نیکه ګانو پوروړي او منندوی یو، چې پخپلو زحمتونو او هڅو سره یې آبادی کړي دي او په ډېر ویاړ او سرلوړي سره یې موږ ته تحویل کړي دي.

نو په دې اساس موږ اوسنی نسل د پخوانیو نسلونو د ټولو لاسته راوړنو او فداکاریو څخه د استفادې په خاطر د هغوی مدیون او پوروړي یو. نو لازمه او حقه خبره دا ده چې موږ هم د راتلونکو نسلونو د هوساینې په خاطر (په روغ نیت) د تېرو سوو نسلونو لار غوره کړو.

اوس نو پوښتنه دا ده، چې:

آیا اوسنی نسل به په رښتیا وکولای سي چې د فداکارۍ او قربانۍ مفهوم او روح درک کړي؟

آیا وبه کولای سي چې خپل ځانونه د الهي شریعتونو په اخلاقو او غوره چلندونو سره ښکلي کړي؟

مګر په خواشیني سره په اوسنیو ټولنو کې چې موږ اوسېږو تر ډېره حده د ښکلو اخلاقي ارزښتونو او د نورو په وړاندې د مسئولیت د احساس څخه خلک لیري او بېګانه دي.



تاسي که هر چیري ولاړ سئ او د اوسنیو ټولنو په هره کونډه او کنار کي وګرځئ نو د یوې ډېرې بدې ځان غوښتني او انانیت سره به مخامخ سئ.

دا ځان غوښتنه، ځان ځاني او خودخواهي ده چې د انسانانو تر منځ یې متقابل اعتماد له منځه وړی دئ، د خپلوۍ اړیکي یې شلولي دي، ګاونډی یې د ګاونډي او دوست یې د دوست سره بېګانه او پردی کړی دئ، او په ټولیزه توګه د انسانانو تر منځ اجتماعي اړیکي او روابط سستي او مخ پر شکېدلو دي. دا په داسي شرایطو کي چي موږ د ژوندانه د مشکلاتو او ستونزو د حل لپاره تر هر څه ډېر یو تر بله همکارۍ، یووالي او د مسئولیت احساس ته اړتیا لرو.

خو بیا هم (د پورتنیو مشکلاتو سره سره) زموږ په ټولنو کي د ایثار او قربانۍ ډېري نښې او آثار لیدل کېږي، چي زموږ سره د خودخواهۍ (ځان غوښتني) د تاریکۍ په وړاندي د مقابلې په اړه امید رابخښي.

کوم ځوانان چي په فلسطین (عراق او افغانستان) کي په شهادت رسېږي، په معاصر تاریخ کي د آزادۍ غوښتونکو مبارزو په ډګرونو کي د شهادت و لوړ مقام ته ځانونه رسوي، او هغه کسان چي پخپلو سخاوتونو سره د خیره بنسټونو (او عام المنفعه ځایونو سره لکه مسجدونو، مدرسو، روغتونونو، یتیم خانو، دعوتي کاروانو او ...) سره مرستي او همکاري کوي او خلکو ته د خدمت په لاره کي هیڅ ډول مرسته او همکاري نه سپموي او هغه کسان چي د غفلت په خوب د ویدو خلکو په منځ کي د اصلاح، دعوت او روزني په کار بوخت دي او عموماً خلک د دوی کار ته لږ توجه او ارزښت ورکوي.

Scanned with CamScanner

پورتنۍ ذکر سوي دلي ټوله د ايثار، فداکارۍ، ځان تېرېدني مخکښان او علمبرداران دي او اميد لرو چې د وخت په تېرېدو سره يې رشد، قوت او کارنور هم زيات سي.

راسئ چې پخپلو اسلامي ارزښتونو او لارښوونو کي د ايثار او قربانۍ اصول تر څېړني او غور لاندي ونيسو او پخپل اسلامي تاريخ کي د هغوی آثار او نتايج وګورو او د انساني ارزښتونو د عطرو د وړمو څخه چې د معاصري نړۍ د هوا او هوس په تاريکيو کي ورک سوي دي خپل ځان خوښ او تازه کړو.

کله چې رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو رضي الله عنهم سره د مکې معظمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو د مهاجرينو تر منځ يې د ورور ګلوۍ تړون وتاړه.

داسي چې هر مسلمان مهاجر يې د يو انصاري مسلمان سره ورور او شريک وګرځاوه نو هر انصاري به خپل مهاجر ورور تر لاس نيوی خپل کور ته به يې بيوه، او خپل ټول شته او دارايي به يې هغه که به خوراک و که لباس، نغدي پيسې به وې او که چارپايان د هغه سره تقسيمول، او يو ډېر ګران ورور او دوست په شان به يې د هغه هر کلي کاوه، او هيڅ ډول همکاري او مرسته به يې د هغه څخه نه سپمول او د هغه سره يې د هيڅ ډول خيرخواهۍ او لارښووني په لار کي کوتاهي نه کول.

تر دې چې مهاجرينو خپل غربت، بېوزلي، د خپل ښاره، دارايي او مالونو څخه ليري والی او تکاليف بېخي هېر کړل.

قرآن کريم د قربانۍ او ايثار دغه بې ساري او روښانه بېلګه په واضح ډول انځور کړېده، تر څو د نورو نسلونو لپاره د عبرت درس او



سرنوشت سازه لارښوونه وي.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَـٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا۟ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٩﴾ (سورت الحشر – ۹ آيت).

ترجمه: او هغو (انصارو لره دي دغه اموال) چې ځای نيولی دئ په (دې) کور (مدينه) کي او (خالص کړی يې د خپل) ايمان پخوا له دغو (مهاجرانو) خوښوي محبت کوي دوی له هغه چا سره چې هجرت يې کړی دئ دوی ته او نه مومي دوی په زړونو سينو خپلو کي څه تنګي (حسد) له هغه شي څخه چې ورکړه سوي دي (مهاجرينو لره) او غوره کوي (مهاجران) مقدموي يې پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندي تنګي (فاقه او حاجت هغه څه ته چې دوی يې ايثاروي).

همدارنګه الله تعالی ﷻ د هغو کسانو په هکله چې خپل ځانونه د حق، حقيقت او خير خواهۍ په لار کي قربانوي فرمايي:

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ (سورت آل عمران – ۱۶۹ آيت).

ترجمه: او د سره ګومان مه کوئ (اې محمد ﷺ يا اې سامعه!) پر هغو کسانو چې وژل سوي دي دوی په لاره د الله (جهاد او طاعت) کي د مړو (مړه نه دي) بلکي ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق

Scanned with CamScanner

ورته ورکول کېږي (جنتي ماکولات او مشروبات).

د هغو کسانو په هکله چې د خلکو سره نېکی او ښېګڼې کوي او د هیڅ چا څخه د تعریف، ستاینې او تشکر هیله هم نه کوي فرمايي:

وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ (سورت الانسان، ۸-۹ آیتونه).

ترجمه: او (ابرار نېکان) ورکوي طعام خواړه پر محبت مینې د دغه (الله ﷻ) مسکین، اړ، مجبور ته او یتیم پلار مړي ته او اسیر بندي ته (وايي ابرار) بېشکه چې موږ طعام خواړه درکوو تاسي ته خاص لپاره (د ثواب) د الله تعالی نه غواړو موږ ستاسي څخه جزاء بدل او نه شکر ایستل.

کوم وخت چې پیغمبر اکرم ﷺ تصمیم ونیوی چې مدینې ته هجرت وکړي نو مشرکینو یې کور محاصره کی او د هغه ﷺ د وژلو قصد یې درلود، رسول اکرم ﷺ خپل د اکا زوی حضرت علي ﷛ پخپل ځای کې پرېښاوه، حضرت علي ﷛ هم په ډېره دلاوري او مېړانه د رسول الله ﷺ په خاطر ځان قربانولو ته چمتو و او خپل ځان یې د اسلامي رسالت د ساتنې او د هدایت د پیغمبر ﷺ د سلامتی په منظور د لوی خطر سره مخامخ کړ، کله چې د حضرت عمر بن الخطاب ﷛ د خلافت په وخت کې وچ کالي او قحطي راغله نو هغه به د شپې ډېر لږ ویده کېدی، استراحت یې ډېر لږ کاوه او ټول تشویش او د زړه مشغولتیا یې دا وه چې خلک به څه ډول وچکالي تېره کړي. هغه په دې ورځو کې تر دې اندازې خپل خوب، استراحت او خوراک



لږ کړی و، او دومره خسته، ضعیف او غمګین و، چې هر چا به ولید نو ویل به یې: که چیرې وچکالي او قحطي څو میاشتې نوره هم دوام پیدا کړي نو امیرالمومنین به د خلکو په خاطر د غم او تکلیف څخه خپل ژوند د لاسه ورکړي.

یوه ورځ یوه قافله چې د غنمو، غوړو او ټوکرانو بار وه، د مصر څخه راورسېده، حضرت عمر ﷛ هغه ټوله پر خلکو ووېشله او خپل ځان ته یې هیڅ هم پرې نه ښودل، د کاروان مشر یې خپل کور ته دعوت کړ، هغه فکر کاوه چې شاید د خلیفه په کور کې به ښه خواړه تیار سوي وي او کوم خواړه چې د خلیفه په کور کې تیارېږي باید د عادي خلکو تر خوړو ډېر ښه وي.

دواړه ورېږي او ستړي کور ته ولاړل او حضرت عمر ﷛ د کور د اوسېدونکو څخه وغوښتل، چې د دوی خواړه راوړي. د قافلې مشر فکر کاوه چې د خلیفه په کور کې به هر وخت کباب، د غنمو ډوډی، خواږه او نور ... وي خو کله چې خواړه راوړل سول او د دوی مخ ته کېښېښودل سول نو د یو څو پارچو او ټوټو وچې ډوډۍ او یو لږ غوندې غوړو څخه پرته بل هیڅ شی نه وه. هغه د امیرالمؤمنین د دې کار څخه ډېر تعجب وکړ او وې ویل:

ولې دې پرې نه ښودلم چې د هغو غوښو او غنمینې ډوډۍ څخه چې موږ راوړي وه استفاده وکړو؟ تاسي په کور کې داسې خواړه لرئ چې اصلاً د سړي اشتها هم نه ورته کېږي.

حضرت عمر ﷛ ورته وفرمایل: ما پر هغو خوړو چې خپله یې خورم تاسي مېلمه کړي یاست.

د کاروان مشر وویل: ولې د هغو خوړو څخه چې نور خلک یې

خوري نه خوری؟ آیا همدا نن دي غوښي، اوړه او نور ... د دوی تر منځ ونه وېشل؟

حضرت عمر ﷺ ورته وویل: دا عهد مي کړی دئ چي تر څو قحطي او لوږه له منځه نه وي تللې او ټول خلک د کافي خوړو څخه ندي برخمن سوي، نو تر هغو پوري به غوښي او د غنمو ډوډۍ خولې ته نه وړم.

آیا د دې څخه مو ښکلې او لویه قرباني لیدلې ده او په نننۍ نړۍ کي مو د کوم چا څخه داسي اثار او قرباني لیدې ده؟



# نصیحت کول که آبرو تویول

زموږ او ستاسي څخه کوم یوه خطا او اشتباه نه ده کړې او له حقي لاري څخه نه دئ منحرف سوی؟ (بلکي سوی دئ) دا ځکه چي په موږ انسانانو کي داسي متناقضي غریزې او طبیعتونه موجود دي، چي موږ د هدایت او خیر یا انحراف، شر او ګناه خوا ته ګرځوي.

د بلي خوا ډېر انسانان د خپلي لار موندني (هدایت) او یا ګمراهۍ څخه ناخبره دي نو دا د نورو انسانانو مسئولیت دئ چي هغوی خپلو خطاوو او انحرافاتو ته متوجه کړي او لارښوونه ورته وکړي.

همدا ډول هر څوک چي ظلم او یا ظالم ویني یا هغه څوک چي پر خپل ځان ظلم کوي ویني نو لازمه ده چي د امکان تر حده یې مخنیوی وکړي. دا هغه مهم او حساس مسئولیت دئ، چي یو مسلمان ورور یې د بل مسلمان ورور او د خپلي ټولني په وړاندي لري.

خو هر کله چي انسانان د دې مسئولیت په اداینه کي د لټۍ او کوتاهۍ څخه کار واخلي او د نورو د نصیحت کولو او لارښووني څخه لاس واخلي نو په نتیجه کي یې د دوی اړیکي د ستونزو سره مخ کېږي، دوستي په دښمني بدلېږي، په ټولنیزو کارونو کي ګډوډي رامنځته کېږي، شر، ګناه، خباثت او فساد په ټولو ځایونو کي د مکروب غوندي خپرېږي او سرایت کوي.

قرآن کریم ځکه بني اسرائیل د لعنت او محرومیت مستحق بللي دي چي یو او بل ته یې نصیحت او لاربښودنه نه کول د دوی په اړه فرمايي:

لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ (سورت المائده، ۷۸ـ ۷۹ آیتونه).

ترجمه:

ترجمه: لعنت کړل سوی دئ پر هغو کسانو چي کافران سوي دي، د بني اسرائیلو څخه په ژبه د داود سره او په ژبه د عیسی زوی د مریمي، دا (لعنت پر دوی) په سبب د دې و چي نافرماني یې کوله (د احکامو د الله ﷻ) او و دوی چي تېرېدل به (د حدودو د الله ﷻ) وه دوی چي یو بل به یې نه سر منع کول د هغه بد عمله چي کاوه به دوی هغه.

د متقابل نصیحت او لاربښووني څخه ماسوا بل هیڅ شی نه سي کولای چي د یو ملت د رشد، هدایت او علم ښکارندویي وکړي او د خوشبختی سبب یې سي.

که چیري ټول انسانان د خپل ورور، خور، ګاونډي، اولاد، شاګرد، او نورو تر لاس لاندي خلکو نصیحت او لاربښووني ته دوام ورکړي او ددې کار څخه کوتاهي ونه کړي، نو په داسي یوه وضعیت کي به د ټولو حقوق پر ځای او مراعت سي، ارزښتونه او فضیلتونه



عملي کېږي، د خلکو تر منځ د متقابل اعتماد د اطمینان فضاء منځته راځي او د هر ډول خیانت، تهمت، غیبت او نورو ګناهونو آثار او نښي د منځه ځي. مګر که چیري دغه لار (د نصیحت کول) او دغه اخلاق په یوې ټولنه کي د منځه ولاړ سي یا د هغوی تر منځ د مسئولیت احساس موجود نه وي نو د هغې ټولني ټول وګړي به بدیو، دښمنیو، جرائمو او ګناهونو په مردار ډنډ کي غرق سي.

## څه ډول نصیحت؟

ډېری انسانان بیا د نصیحت د طرز او طریقې په هکله ستونزه لري، حد او حدود یې لکه څنګه چي ښایي هماغسي نه مراعتوي، ځیني وختونه یو نفر ته د نصیحت او لاربښووني پر ځای د هغه ابرو او حیثیت ته صدمه رسوي، او ځیني یې د نرمۍ او تسامح پر ځای په ریا او غوړه مالۍ اخته کېږي.

د نصیحت دغه ډول بې ځایه او ناسمه طریقه د ډېرو مشکلاتو د رامنځته کېدو لپاره زمینه برابروي. تاوان یې تر ګټي زیات دئ او د روا مسئولیت پر ځای په ناروا عمل کېږي.

کله چي نصیحت ګټه نه کوي یا د نورو ډېرو بدیو لپاره زمینه برابروي نو د مقابل طرف سره تسامح او نرمي ډېره ضروري ده تر څو د هغه حال او وضعیت طبیعي حالت ته وګرځي او تر څو موعظې او د نصیحت لپاره شرایط برابرېږي باید د هغه سره د نرمۍ چال چلند وسي. او که نصیحت کوونکی د خپلي ناسمي طریقې په سبب په مقابل طرف کي د بدۍ او ګناه جرئت او زمینه برابره کړې وي او یا د بې ځایه ریاکارۍ او چشم پوشۍ په خاطر هغه و ناروا کارونو ته اړ

Scanned with CamScanner

کړي، دا کار ډېر بد او يو ډول رياکاري او غوړه مالي ده، چې د لوړو اخلاقي ارزښتونو او نصيحت کولو د طريقې سره سمون نه خوري او اسلامي اخلاق او شريعت دا ډول کړنلاره نه خوښوي.

داسي حاکم ته ورتلل چې هغه د خلکو و کرامت او ارادې ته په هيڅ ارزښت نه وي قايل د هغه خودکامگي او ظلم توجيه کول او نور يې هم فسق او فجور ته تشويق او ترغيبول، د هغه څخه د قدرت په اوج کې د هغه د اصلاح نه د مايوسه کېدلو په خاطر د نه نصيحت کولو تر منځ خورا ډېر تفاوت موجود دئ.

ځکه هغه سکوت چې د نصيحت کولو، لارښووني او هدايت لپاره د يوه مناسب فرصت او شرايطو د برابرېدو په خاطر وي ډېر گټور او مفيد دي. نو ويلای سو چې مخکنۍ طريقه ريا او غوړمالي ده او دوهمه طريقه نرمي، تسامح او نصيحت دئ.

دا ځکه چې غوړه مالي د کمزورۍ او ډار څخه او نرمي د فکر او حکمت څخه سرچينه اخلي.

## نصيحت او لارښوونه پړاوونه لري:

لومړی پړاو: هر هغه څه چې د کوم دوست، گاونډي او نورو خلکو په هکله ويل کېږي، بايد په ډېر تلوار او عجله سره تائيد نه کړل سي، د هغه په اړه بايد تحقيق وکړل سي او د بنه توثيق او اطمينان وروسته دي هغه ځانگړي شخص ته د نصيحت کولو تصميم ونيول سي.

تحقيق او پلټنه بايد ځکه وکړل سي چې اکثره خلک د نورو خلکو په هکله د آوازو او دنډورو اچولو سخته عادت لري. پر خلکو



باندي د بنه گومان پر ځای پر هر چا بد گومان کوي او په ډېر تلوار سره د هغوی په هکله قضاوت کړي.

په دې خاطر هر څه چې د نورو په هکله ويل کېږي. که څه هم د ډېرو خلکو د خولې خبره وي ژر بايد تصديق او تائيد نه کړل سي او د مشاهدې، تحقيق او اطمينان څخه مخکي و نه منل سي.

حتی هغه څوک چې په دې اړه يې تحقيق او څېړنه کړې وي د هغه د صداقت او اغراضو د معلومولو څخه مخکي بايد د هغه څېړل سوې موضوع تائيد نه کړل سي، همدا وجه ده چې الله تعالی ﷻ مونږ د بد گومان ی څخه منع کړي يو او هغه يې گناه بللې ده، چې په هيڅ ډول د حق او حقيقت بې نيازه نه ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجۡتَنِبُواْ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞۖ (سورت الحجرات - ۱۲آيت).

ترجمه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دئ، وساتئ ځانونه د گومان څخه بېشکه ځيني گومان گناه ده.

إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔاۚ (سورت يونس - ۳۶آيت).

ترجمه: بېشکه گومان اېکل نه بې پروا کوي هيڅوک د حقه د هيڅ شي.

که مو چيري د يو چا څخه يو څه وليدل يا مو داسي خبره واورېدل، چې د سم تعبير او توجيه ځای يې درلود، نو لازمه ده چې هغه سمه تعبير او توجيه کړل سي.

ځکه ايماني ورورلي او اخلاقي فضايل د همداسي کړني

Scanned with CamScanner

غوښتنه کوي.

د عبدالله بن مطيع لور و خپل خاوند طلحه بن عبدالرحمن بن عوف ته چي پخپل وخت کي يې په سخاوت کي لوی نوم درلود، وويل:

ستا د دوستانو څخه مي کمزوري او بې شخصيته خلک تر اوسه نه دي ليدلي.

طلحه ورته وويل: ولي د هغوی په هکله داسي قضاوت کوې؟

هغې وويل: موږ وينو چي هر کله ته هغوی ته يو څه ورکوې دوی پر تا راټول او درسره يو ځای وي، خو کله چي دوی ته ته څه نه ورکوې نو ستا څخه ليري وي. (پوښتنه دي هم نه کوي).

طلحه ورته وويل: قسم په خدای ﷻ د دوی دا کار د دوی پر ښو اخلاقو باندي دلالت کوي، ځکه دوی يوازي هغه وخت ما ته راځي او پر ما پوښتنه کوي کله چي زه کولای سم دوی ته يو څه ورکړم او کله چي وپوهېږي چي زه د دوی سره د کومک وس نه لرم نو ما ته مراجعه نه کوي، تر څو زه و دوی ته شرمنده نه سم.

ګورئ چي طلحه د خپلو دوستانو کار چي په ظاهره ډېر بد او ناوړه دئ د خپلي مېرمني ته په څومره ښکلې طريقه توجيه او تعبير کړ.

دوهم پړاو: نصيحت دا دئ چي د انسان طبيعت او غرايزو ته پاملرنه پکښې وسي او په دې بايد وپوهېږو چي هغه نه فرشته ده او نه پيغمبر دئ. د دوستانو، آشنايانو او نورو څخه بايد انتظار ونه لرو چي هيڅ ډول خطاء، اشتباه او لغزش دي ونه کړي، لازمه ده چي د دوی خطاوي او اشتباوي په انساني ضعف کي وشمېرو، چي هيڅوک د



هغه څخه مستثنی نه دي او يوازي يو څو د ګوتو په شمېر کسان دي چي د شيطاني توپانونو او نفساني غرايزو په وړاندي خپل ځان د لاسه نه ورکوي.

و خپلو روزمره کارونو او خبرو ته متوجه سئ، آيا خطا او اشتباه نه کوئ؟ ولي د نورو څخه هغه انتظارات او غوښتني لرئ کوم چي د خپل ځان څخه يې نه لرئ؟

يو عرب شاعر وايي:

من ذا الذي ترضى سجاياه کلها

کفى المرء نبلا ان تعد معايبه

يعني داسي کوم انسان دئ چي د ټولو عادتونو څخه يې راضي ياست، د يو چا د هوښيارتيا او پوهي لپاره دا کافي ده، چي خپلو عيبونو ته پاملرنه وکړئ.

خو د هر کلام څخه د الله تعالی ﷻ کلام ډېر خوږ دئ، چي د انسان د طبيعت حقيقت بيانوي او عزيز مصر د ښځي د خولې څخه نقل کوي:

﴿ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ ﴾

(سورت يوسف–۵۳آيت).

ترجمه: او زه نه پاکوم نفس خپل (په دې شان چي نه کوي ميل بدۍ ته ځکه چي) بېشکه نفس خامخا ډېر امر کوونکی دئ (هر وخت) په بدي سره مګر هغه (نفس) چي رحم مهرباني پرې کړې وي رب زما.

کله چي دا خبري په نظر کي ولرئ او بيا د کوم دوست د خطا او

اشتباه سره مخامخ سئ او هغه حقي او سمي لاري ته رهنمايي کړي.
نو موضوع ځانته داسي بڼه نه غوره کوي چي هغه ګواکي د کوم نقص او يا عيب په خاطر سپکوي او يا يې شرموي او يا د هغه کار په خاطر هغه تر سختي ملامتی لاندي ونيسي.

امام شافعي رحمه الله فرمايلي دي:

هيڅ داسي مسلمان انسان نسته چي د الله تعالی د ټولو اوامرو اطاعت يې کړی وي او هيڅکله خطا او ګناه نه کوي (يعني کله کله خو يو ګناه ځني کېږي) نو د هر چا چي تقوا او فرمانبرداري د ګناه او نافرمانيو څخه زياته وي هغه عادل او متوازن انسان دئ.

ربښتيا هم د امام شافعي رحمه الله دا خبره د هغه پر علميت، حکمت او معرفت باندي دلالت کوي چي يوازي د نفسونو طبيبان او مصلحين د هغو درلودونکي دي.

ډېر کامل، متدين او تقوا لرونکي انسانان هغه نه دي چي ګناهکاران ملامت، سپک او توهين کړي او خپل ځان د تقوی او عبادت له لحاظه پر هغوی لوړ وبولي، بلکي بهترين انسانان هغه دي چي د نورو سره د مهرباني او شفقت چلند وکړي او د يو متخصص رنځپوه (ډاکټر) غوندي د ناروغيو څخه شفاء بخښونکي نسخې ورته تجويزوي، ايا ليدلي مو دي يا مو اورېدلي دي چي کوم رنځپوه د ناروغ سپکوالی او توهين کړی دئ، او د هغه سره يې د تکبر او غرور چلند کړی دئ؟

رسول اکرم ﷺ چي د حق او نېکی لپاره د ټولو انسانانو ستر لارښود دئ، فرمايي:

بحسب مؤمن الشر ان يحقر اخاه المسلم (رواه مسلم).



د يو مومن لپاره يوازي همدا شر او بدي کفايت کوي چي خپل مسلمان ورور توهين او تحقير کړي.

دريم پړاو: نصيحت او لارښوونه دا ده، هر شی چي نه خوښوئ او هغه انحراف او ګناه درته ښکاري، نو هغه کار يا شي يوازي د خپله نظر او رايي د زاويې څخه مه ګوره! بلکي د هغه چا د نظره چي هغه کار تر سره کوي هم بايد وکتل سي. ځکه امکان لري چي د رايي او اجتهاد په اساس او يا د خير او ښه نيت پر بنسټ يې هغه کار غوره کړی، په دې خاطر هغه بايد ډېر ژر تر ملامتی لاندي ونه نيول سي، کېدای سي د هغه کار د حق او حقيقت رنګ ولري او د هغه لپاره دليل او توجيه ولري.

د همدې موضوع په ارتباط دئ چي علماوو ويلي دي:

که چيري يو کار يا يو نظر د تکفير (کفر) لپاره نه نيوی بهانې او لاري و ليري او يوازي يوه لار د نه تکفير ولري نو لازمه ده، چي هغه يوې لاري ته وکتل سي، او د دې کار خاوند کافر ونه بلل سي.

او په همدې اړه علماوو ويلي دي، چي: د نهي عن المنکر (د بديو څخه د منع کولو) د شرايطو څخه يو شرط دا دئ چي هغه کار به اجتهادي او د مجتهدينو په منځ کي د اختلاف محل او موضوع نه وي او د هغه کار د کوونکي په نظر (يا مذهب) هغه بد او ګناه نه وي که داسي وي نو بيا يې مخالفت او نهي جايز نه دي[1].

څلورم پړاو: نصيحت دا دئ چي هر کله چي مو د يو چا د خطا او انحراف په هکله يقين پيدا کړ او د هغه ګناه او اشتباه په اثبات درته

[1] دا په هغو ځايونو کي چي د څو فقهي مذاهبو پيروان ګډ ژوند کوي، (ژباړن).

Scanned with CamScanner

ورسېده او د معذور شمېرلو او توجيه لپاره يې هم هيڅ ځای نه و پاتـه نو لازمه ده چي په داسي ځای کي چي يوازي ته او هغه ياست ورته نصيحت وکړئ په عام محضر او د ټولو په مخ کي يې د نصيحت کولو څخه ډډه وکړئ. ځکه طبيعتاً د انسان نه خوښېږي چي نور خلک يې په عيبونو خبر سي.

که چيري خپل دوست او ورور ته په پټه نصيحت وکړئ نو د ده له خوا يې د قبول او منلو اميد او هيله ډېره ده، په پټه نصيحت کولو کي اخلاص او خيرخواهي هم ډېره وي، د شک او شبهې څخه يې فاصله هم زياته وي او که د نورو په مخ کي ورته نصيحت وکړئ نو يو دا چي د مقابل طرف د آزرده ګۍ او کينې سبب ګرځي او د بلي خوا د نصيحت کوونکي د نمايش او ريا باعث کېږي، او دا هغه شيان دي چي د نصيحت منلو په مقابل کي لوړ دېوال وهي.

د نهي عن المنکر په اړه د حضرت رسول اکرم ﷺ د اخلاقي ځانګړتياوو څخه يوه ځانګړتيا دا وه: هر کله به چي له کوم چا په يو بد کار او ګناه خبر سو نو په ډاګه به يې د هغه نوم نه ياداوه، بلکي داسي به يې ويل:

"ولي ځيني کسان دغسي او هغسي کوي؟"

کوم کس چي به هغه کار کړی و، پوهېدی به چي د رسول الله ﷺ مقصود هغه دئ او موخه يې دوی ته د نصيحت کول دي، دا د نصيحت کولو تر ټولو ښکلې طريقه او اسلوب دئ، چي د ټول بشريت لارښود او مربي رسول الله ﷺ موږ ته راښوولی دئ.

يوه ورځ کوم کس د نورو خلکو په وړاندي حضرت علي کرم الله وجهہ مخاطب کړ او ورته وې ويل:



يا اميرالمؤمنين! تاسي په فلاني او فلاني ځای يا کار کي اشتباه کړې او زه تا ته نصيحت کوم چي هغه اصلاح کړې.

حضرت علي کرم الله وجهه ورته وفرمايل: هر کله چي غواړې ما ته نصيحت وکړې نو کوښښ وکړه چي بل څوک نه وي ځکه که چيري د خلکو په وړاندي ما ته په نصيحت کولو اقدام وکړې نو د ځان او ستا په اړه د امنيت احساس نه کوم (شايد ستا د غرور او نمايش او زما د آزار سبب وګرځي).

و مسعر رحمه الله ته وويل سوه، چي: آيا خوښه دي ده چي بل څوک دي عيبونه او نواقص درته په ګوته کړي؟

هغه وويل: که چيري يوازي يم هو خوښه مي ده او که وغواړي چي د نورو په وړاندي مي رسوا کړي نو مخالف يم.

دا ډېره ښه او سنجيده خبره ده، ځکه په ګوښه کي نصيحت کول د شفقت او مهرباني نښه ده او په عام محضر کي د نورو په وړاندي د آبرو او حيثيت توييول دي.

امام شافعي رحمه الله فرمايلي دي: هر څوک چي په پټه او ګوښه کي نورو ته نصيحت کوي نو د هغه د هدايت او اصلاح زمينه يې برابره کړه او هر څوک چي يو چا ته د نورو خلکو په مخ کي نصيحت کوي نو د هغه د رسوايي او توهين سبب کېږي.

يوه ورځ د وخت خليفه ابو جعفر منصور خلک د الله تعالی اطاعت او فرمانبرداري ته رابلل او د هغه جل جلاله د نافرماني څخه يې منع کول.

يو سړی ولاړ سو او وې ويل: د الله تعالی څخه وبېرېږه.

منصور ورته وويل: قسم په خدای جل جلاله چي د دې نصيحت څخه

ستا هدف د خدای ﷻ رضا نه وه، بلکي موخه دي دا وه، چي خلک ووايي چي فلاني ولاړ سو او خليفه ته يې نصيحت وکړ.

ګوری چي ابو جعفر منصور هم د نفس پټو خطرونو ته متوجه سوی و او دې ته يې پام سوی و، چي کله کله تقوی، زهد، نصيحت کول د حق څخه په دفاع کي شهامت او جرئت د ناروا نفساني غوښتنو سره مل او د اشرافي خوراک او جامو سره مشابهت لري. مګر هغه کسان چي د نصيحت په بهانه د نورو عيبونه د خلکو په منځ کي په ډاګه کوي او په مختلفو مجلسونو کي د خلکو حرمت او کرامت تر پښو لاندي کوي دوی په حقيقت کي په دين باندي خپله ناپوهي ښکاره کوي. دا خو کټ مټ غيبت کول دي او د غيبت څخه الله تعالی ﷻ او رسول الله سخت منع کړي يو.

نصيحت خو دا دئ چي که د يو چا څخه کومه ګناه او خطا وسوله، نو هغه ته په پټه او ګوښه کي نصيحت وکړو او غيبت دا دئ چي د يو چا په غياب کي داسي خبري وسي، چي په اورېدلو سره هغه خپه کېږي.

هو! که مو چيري يو چا ته په څو واري پرله پسې نصيحت وکړ، خو هغه هماغسي خپلي ګناه او بدکارۍ ته ادامه ورکوله او دا سړی د مقام او نفوذ خاوند هم و او خبره يې په ناپوهو خلکو کي تأثير او خريدار هم ولري نو کولای سي چي د داسي کسانو د ګناهونو او بديو يادونه خلکو ته وکړي تر څو خلک د هغه د پيروۍ څخه ډډه وکړي.

مګر (د دې څخه آخوا) مشخص نوم اخيستل او د افرادو حرمت تر پښو لاندي کول په هيڅ شرط او هيڅ بهانه جواز نه لري تاسو يوازي د دې حق څخه درلودونکي ياست چي د اثبات په صورت کي د کوم چا



ناوړه عمل او ناوړه عقيده خلکو ته په ډاګه کړئ تر څو هغوی يې د انحرافي اعمالو او افکارو څخه پيروي ونه کړي، دا چي هر څوک وي الله تعالی ﷻ خپل پيغمبر ته په خطاب سره دا طريقه موږ ته راښيي:

فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ (سورت الشعراء - ٢١٦ آيت).

ترجمه: پس که نافرماني وکړي (دغه خپلوان دي له تا نه) پس ووايه ته (اې محمده ﷺ دوی ته) بېشکه زه بېزاره يم له هغه (شرک او معاصي) چي کوئ يې تاسي.

يعني د دوی د کردار او اعمالو څخه برائت او بېزاري اعلانول نه د دوی څخه دا ډول چلند د خلکو د نوم اخيستلو د بدوالي په خاطر دئ، ځکه دا کار (د نوم اخيستل) د دښمني، کينې او ګډوډۍ باعث کېږي.

پنځم پړاو: نصيحت هغه دئ چي د يو بد کار منع کول د يو بل لوی بدکار او ګناه د رامنځته کېدو سبب ونه ګرځي، مثلاً د لويي فتنې، ګناه، قتل، جګړې، ګډوډۍ او د خلکو په منځ کي د دښمنۍ او تفرقې د رامنځته کېدو باعث ونه ګرځي.

ځکه د دې کارونو د بدو او منفي اثراتو او اور څخه لوی کوچني، ښه او بد ټوله متأثره کېږي او تاوان يې خورا عام، لوی او نه جبرانېدونکی دئ.

د يوې کوچنۍ منکر په سبب چي يو فرد يې مرتکب کېږي جايز نه ده چي ډېر خلک په منکر او د هغه ځ[illegible] په لويو بديو او ګناوو کي واقع کړو.

Scanned with CamScanner

حضرت پیغمبر ﷺ حضرت عایشې ﷺ ته په خطاب سره وفرمایل:

لولا ان قومک حدیثوا لعهد بالاسلام لبنیت الکعبه علی قواعد اسماعیل و لجعلت لها بابین باباً یدخل منه الناس و باباً منه یخرجون[1].

ترجمه: که چیرې ستا قوم اسلام ته د تازه داخلېدو په خاطر (په فتنه کې د دوی د واقع کېدو بېره نه وای) نو ما به کعبه شریفه د اسماعیل ﷺ په قواعدو او بنسټونو سره ودانه کړې وای، او دوې دروازې مې ورکولې چې د یوې څخه به خلک ور داخلېدل او د بلې څخه به وتل.

وینو چې رسول الله ﷺ د دې بېرې او اندېښنې څخه چې خلک په دیني فتنه کې واقع نه شي د کعبې شریفې د بیا جوړوني څخه ډډه کوي دا ډول تګلار عین فقه او د دین څخه د سمې پوهې او معرفت لویه نښه ده.

چې د (بد) د له منځه وړلو په خاطر باید د (بدتر) لپاره زمینه برابره نه سي، د وړوکي ضرر او شر سره د مقابلې په خاطر باید ډېر زیات ضرر او شر متحمل او رامنځته نه سي.

ځکه د اصلاح او جوړوني لپاره د ستونزو او ګډوډیو مخنیوی اړین او ضروري دئ.

هر کله چې مو پنځه ګوني پړاوونه او مرتبې مراعات کړې او د نصیحت کولو ضرورت مو احساس کړ، نو پر تاسو لازمه ده چې په ډېر

(۱) رواه البخاري و مسلم.



حکمت، نرمۍ او دوراندېشۍ سره چې د نفرت او کرکې باعث نه سي هغه ته اقدام وکړئ. مقابل طرف باید په هیڅ صورت دا احساس ونه کړي چې ګواکې تاسې غواړئ چې پر هغه فخر فروشي وکړئ او خپل علم او پوهه هغه ته ښکاره کړئ، او پر هغه باندې خپل ځان لوړ او هوښیار ښودل غواړې.

الله تعالی په لاندې مبارک آیت کې مومن ته د نصیحت کولو او موعظې ډېره ښکلې لار او اداب راښوولي دي، او فرمایي:

ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ (سورت النحل – ۱۲۵آیت).

ترجمه: بلنه کوه (اې محمده ﷺ خلکو ته) لارې د رب خپل ته (چې توحید او اسلام دئ) په حکمت (محکمې خبرې د قرآن) سره او په موعظه پند نېک سره په ښه ډول.

د حضرت رسول اکرم ﷺ د اخلاقو په ستاینه کې ویل سوي دي:

"چې هیڅکله یې د هیڅ چا سره داسې برخورد او چلند نه کاوه چې د هغه د آزار او اذیت سبب سوی وای".

دا په دې خاطر چې که چیرې نصیحت د نرمۍ او مهربانۍ څخه خارج وي او په تنده او ترخه لهجه تر سره سي د نصیحت د نه منلو د زړونو د نفرت او د نېکۍ او خیر څخه د خلکو د لیرې کېدو سبب کېږي او پر داسې تند خویه سړي هیڅوک نه راټولېږي.

# صداقت (رښتینولي) که دروغ

عبدالله بن مقفع وايي:

دروغجن انسان هيڅکله رښتينى دوست کېدلاى نه سي، ځکه کوم دروغ چي د ده پر ژبه جاري کېږي هغه يې د زړه او باطن د دروغو اضافات او ښکارندوى دي، او دا د صداقت (رښتينولى) په خاطر دي چي (په عربي کي) دوست ته صديق وايي.

دا خورا پخه او سنجيده خبره ده، ځکه د دروغجن انسان رفتار او چلند هيڅکله صادقه نه وي، د اعتماد او اطمينان وړ نه دئ، په دې اساس دروغجن انسان نه سي کولاى، چي يو صادق کارمند، کارگر او خدمتگار عالم واوسي.

همدا علت دئ چي د اخلاقو د علم علماوو، روانشناسانو (ارواپوهانو) او ټولنپوهانو هيڅ اخلاق او فضيلت تر صداقت (رښتينولى) ښه او ستايلى او هيڅ رذالت يې د دروغو څخه زيات د افرادو او ټولني لپاره خطرناک او بد نه دئ بللى.

د نړۍ د سر هر ډول مشکلاتو ته چي متوجه سو نو معلومه به سي چي ټول يې د دروغو څخه سرچينه اخلي، د عالم دروغ د عامي سر، سوداگر د مشتري سره، دوست د دوست سره، شريک د شريک سره، حاکم او پاچا د خپل رعيت سره، مشران د کشرانو سره.

که چيري دوى ټولو د راستي، صداقت او رښتينولى پر لار گام



اخيستى واى نو ژوند به سروسامان پيدا کړى واى، د خلکو ترمنځ به اطمينان، اعتماد، خوشبختي او امن رامنځته سوى واى.

خو دوى اکثرو د دروغو د لاري په غوره کولو سره د دښمنيو او اختلافاتو لپاره زمينه برابره کړېده، او داسي يو فضا يې رامنځته کړېده چي اکثر خلک يو د بل په خبرو، وعدو، قراردادونو او معاملاتو باندي اعتماد او باور نه لري، موږ او تاسي د نژدې تېرو وختونو شاهدان يو چي څه ډول به خلکو د اعتماد او اطمينان پر بنسټ معاملات او راکړه ورکړه کول، قسم، د قرارداد سند او چک هيڅ چا نه پېژندل يوازي صداقت او اطمينان د ټولو کارونو اساس و.

خو نن يې د سر په سترگو وينو، چي څه ډول د خلکو حقونه تر پښو لاندي کېږي او مالونه يې حيف و ميل او په ظلم سره خوړل کېږي، د بانکي چيکانو، سندونو او معاملاتي عهدنامو سره سره چي د سرمايو خاوندان يې د نورو څخه اخلي خو بيا هم ډېرى د دوى د خپلو مالونو د ضايع کېدو او ورکېدو څخه سرټکوى.

ولي پخواني او تېرسوي حالات نسته او ټوله هغه امانتداري نن په غدر او خيانت بدلي سوي دي، د پخوانيو خلکو اقتصادي او اجتماعي روابط د صداقت او راستي بنسټ ولاړ وه او د اوسنيو خلکو ټول روابط پر شيطانت، دروغو او خيانت بنا دي، صداقت او رښتينولي پر دې سربېره چي د ټولو روحي او معنويُ فضيلتونو اساس او بنسټ ده، د بشري ټولنو يو لوى او اساسي ضرورت هم دئ، د سعادت او خوشبختي لويه دروازه هم ده چي د ټولنو او افرادو پرمخ راخلاصېږي، رښتيني او صادق سوداگر تر هر چا ډېر مشتريان پيدا کوي او د خپل کار او تجربو څخه ډېره گټه پورته کوي آيا هغه

Scanned with CamScanner

خريدارانو ته نه ګوري چي د سودا رانيولو په وخت کي په هغه دوکاندار، مغازه دار، پسي ګرځي چي په صداقت او رښتيا ويلو کي شهرت لري تر څو په اطمينان او آرام زړه د هغه څخه شيان او سودا واخلي.

همدا ډول که تاسي د کومي دعوى او اختلاف په اړه غواړئ چي وکيل استخدام کړی، نو د يو رښتيني او صادق ترين وکيل په اړه د څو تنو سره مشوره کوئ تر څو په اطمينان سره د خپلو حقوقو څخه د دفاع حق هغه ته ور وسپارئ.

لکه مخکي چي مو وويل په اطمينان سره ويلای سو، چي د معاصري نړۍ اکثره ستونزي د صداقت د کمبود او نېستۍ او د دروغو او خيانت د خپرېدلو څخه سرچينه اخلي. په خبرو کي دروغ په کارونو او اعمالو کي دروغ، ناسم نيت په ظاهره تېر استونکي او ... دا د تعجب خبره نه ده، چي ټول دينونه پر صداقت او رښتينولۍ سخت ټينګار کوي او انسانان د دروغو او خيانت نه په کلکه منع کوي.

د اسلام مقدس دين د ټولو اديانو څخه وړاندي دروغ يو ډېر بد او کرغېړن خوى ګڼي، دروغجنان او خاينان سخت ملامتوي او ددې په مقابل کي رښتيا او صداقت ډېر ښه او ستايل سوى خوى بولي، د صادقانو او راستکارانو تعريف او ستاينه کوي.

اسلام صداقت د تقوى لپاره يو لازمي عنصر ګڼي، او د تقوا په څنګ کي ځاى ورکوي، د اسلام د نظره هر څوک چي صداقت د لاسه ورکړي هغه د تقوا او پرهيزګارۍ څخه هم ډېر ليري سو:



يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

(سورت التوبه-١١٩آيت).

ترجمه: اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دئ، وبېرېږئ د الله ﷻ څخه او اوسئ تاسي د رښتيا ويونکو سره.

حضرت رسول اکرم ﷺ د صداقت د خير او ښېګڼو او د دروغو د ګناه او شر د کيليانو څخه شمېرلي دي، او فرمايي:

الصدق يهدى الى البر و البر يهدى الى الجنة و الكذب يهدى الى الفجور والفجور يهدى الى النار[1].

يعني صداقت انسان ښېګڼې ته رهنمايي کوي او ښېګڼې هغه جنت ته رسوي، او دروغ انسان ګناه ته رهنمايي کوي او ګناه انسان دوږخ ته رسوي.

د نورو په حق کي دروغ ويل د اسلام د نظره تر ټولو لوی خيانت دئ، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

كبرت خيانة ان تحدث اخاك حديثاً هولك مصدق و انت له كاذب[2].

يعني تر ټولو ستر خيانت دا دئ چي خپل ورور ته يوه خبره وکړې، په داسي حال کي چي هغه تا رښتينى وبولي خو ته پخپله دغه خبره کي دروغجن يې.

دروغ ويل د منافق خوى دئ، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

آية المنافق ثلاث: اذا احدث كذب و اذا وعدا خلف و اذا اوتمن

[1] رواه البخاري.

[2] رواه البخاري.

خان[٣]

د منافق انسان نښانې دري دي: كله چي خبري كوي درواغ وايي، كله چي وعده وكړي وعده خلافي كوي او كله چي نور خلك اعتماد په وكړي او امانت ور وسپاري نو په امانت كي خيانت كوي.

او بل دا چي درواغ د اسلام سره هيڅ پيوند او تړاو نه لري او د مسلمان انسان عادت نه كېږي.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: كل خصلة يطبع عليها المسلم الا الخيانت و الكذب[١].

د درواغو او خيانت څخه پرته بل هر خوی د مسلمان عادت ګرځېدای سي.

د رسول اكرم ﷺ څخه پوښتنه وسوه، چي: آيا امكان لري چي مسلمان دي بې زړه وي؟

ويې فرمايل: هو امكان لري.

پوښتنه وسوه: امكان لري چي بخيل وي؟

ويې فرمايل: هو كېدای سي.

پوښتنه وسوه: امكان لري چي كذاب او درواغجن وي؟

پيغمبر ﷺ وفرمايل: نه! هيڅكله امكان نه لري[١].

د رسول اكرم ﷺ دغه خبره د هغو كسانو لپاره چي د خپل دين او خپل شرافت په اړه د مسئوليت احساس كوي او په هغوی كي ايمان او مېړانه وجود لري يو ډول جدي خبرداری او د خطر زنګ دئ.

---

[٣] رواه البخاري و مسلم.

[١] رواه الامام احمد و البزار و غيرهما.

[١] رواه الامام مالک.



درواغ ويل د الله تعالی ﷻ په وړاندي انتهايي بې پروايي ده، په همدې خاطر درواغجن انسان د نفرين مستحق او د الله تعالی ﷻ د رحمت څخه لېري دي. الله تعالی ﷻ فرمايي:

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا۟ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴿٦١﴾ (سورت آل عمران – ٦١ آيت).

ترجمه: نو هر څوک چي جګړه کوي له تا سره په باره د عيسی کي وروسته د هغه چي حاصل سو تا ته علم (د عيسی په بنده ګي او نبوت) نو ووايه (اې محمده ! دوی ته) راځئ چي راوبولو زامن زموږ او زامن ستاسي او ښځي زموږ او ښځي ستاسي او ځانونه خپل او ځانونه ستاسي بيا به التجا عاجزي وکړو (په دعا کي) نو وبه وايو لعنت د الله ﷻ پر درواغجنانو باندي.

درواغجن انسان به هيڅکله په ژوند کي کامياب او بريالی نه وي، هيڅکله به د حق او هدايت لاره پيدا نه کړي، بالاخره به د ده جبن (بېره) او کمزوري به خلکو ته ښکاره سي او پخپلو ټولو کارونو کي به د ناکامي او شرمنده ګی سره مخامخ وي.

د درواغجنانو لپاره الهي جزاګاني دا دي چي فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ (سورت المؤمن يا غافر – ٢٨ آيت).

ترجمه: بېشکه الله تعالی سمه لاره نه ښيي هر هغه چا ته چي هغه

مسرف له حده تېرېدونکی وي ډېر دروا‌غجن وي.

وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ﴿٦١﴾ (سورت طه – ٦١ آيت).

ترجمه: او په تحقيق خراب او نا اميده سو هر هغه څوک چې دروا‌غ يې وتړل.

د يادوني وړ ده، چې اسلام دروا‌غ ويل حتى په ټوکو کې هم نه خوښوي او حرام يې بولي. رسول اکرم ﷺ به هم کله ناکله ټوکې کولې خو د حق او حقيقت څخه پرته به يې بل څه پر مبارکه خوله نه راوړل.

يوه ورځ يوه زړه بوډۍ د پيغمبر ﷺ حضور ته راغله او د هغه ﷺ څخه يې جنت ته د داخلېدو دعا وغوښته. پيغمبر ﷺ د ټوکو په ډول ورته وويل: زړې ښځې جنت ته نه داخلېږي.

هغه بوډۍ په ژړا بېرته روانه سوه، پيغمبر ﷺ بېرته راوګرځوله او ورته ويې فرمايل: ته د دې زړښت او بوډاتوب په حالت کې جنت ته نه بېول کېږې، بلکې نوې او تازه ځوانه به سې او بيا به جنت ته داخله سې.

آيا الله تعالى ﷻ دا قول دي نه دئ اورېدلی، چې فرمايي:

إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾

(سورت واقعه، ۳۵ – ۳۶ – ۳۷ آيتونه).

ترجمه: بېشکه موږ نوي پيدا کړي دي دغه (حورې او د دنيا ښځې په يو ښه پيدا کولو سره) نو ګرځولي مو دي دوی بکرې پېغلې.

هغه څه چې پورته يې يادونه وسوه، د صداقت او دروا‌غو په اړوند د اسلام د دريځ يوه برخه وه او ومو ليدل چې حتى د ټوکو په



حالت کې يې هم مسلمانانو ته د دروا‌غو ويل واجازه نه ده ورکړې. خو د دې مطلب يادونه هم بايد وکړو چې اسلام په څلورو ځانګړو ځايونو کې چې د هغه د ټولني او کورني د مصلحت امنيت او ساتني سره نژدې تړاو ولري د واقعي څخه د خلاف خبرو کولو اجازه ورکړېده.

۱. د مرګ څخه د بې ګناه انسان د ژغورلو په وخت کې.

۲. د کافر دښمن سره د مخامخ جنګ په وخت کې.

۳. د مسلمانانو ترمنځ د صلحي او جوړجاړي په وخت کې.

۴. ښځي او خاوند ته د خپلمنځي محبت او صلحي د رامنځته کېدو په خاطر.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

كل الكذب يكتب على ابن آدم لا محالة، الا ان يكذب الرجل فى الحرب، فاالحرب خدعة او يكون بين رجلين شحناء فيصلح بينهما، او يحدث امرائة يرضيها[1].

يعني بې له شکه د انسان په عمل نامه کې هر ډول دروا‌غ ليکل کېږي، ماسوا د (کفارو سره) د جنګ د دروا‌غو څخه، ځکه جنګ فرېب دئ، يا هغه دروا‌غ چې د دوو نفرو د دښمني د ورک کولو او اصلاح لپاره وي او هغه چې خاوند يې د خپلي ښځي د رضائيت او محبت د لاسته راوړلو لپاره کاروي.

د دې لپاره چې د صداقت او کذب په اړه د اسلام د دريځ په بحث کې قرار لرو لازمه ده چې د اسلامي تعاليمو او لارښوونو د نقش او پر صدق او صداقت باندي د مسلمانانو د پابندۍ يادونه وکړو، چې

(1) رواه الترمذي و احمد.

پخپل تاريخ کي يې د دې اخلاقو زړه راکښونکي او په زړه پوري صحني د ژوند په بېلابېلو مرحلو کي ليدني او تندارې ته وړاندي کړې دي:

حضرت بلال او حضرت صهيب رضي الله عنهما دواړه د پيغمبر ﷺ اصحاب و يوه کور ته د خپلو ځانو په مرکه او خواستګارۍ ورغلل. د دوی څخه وپوښتل سوه چي: تاسو څوک ياست؟

بلال رضي الله عنه وويل: زه بلال او دی زما ملګری صهيب دئ. موږ بې لارې وو خو الله تعالی هدايت راته وکړ، او د غلامۍ څخه يې آزاد کړو، بېوزلي وو خو هغه غني او بې نيازه کړو.

که چيري مو لوڼي موږ ته را په نکاح کړئ، نو د الله تعالی ﷻ شکر اداء کوو او که دې کار ته حاضر نه سواست، بيا هم موږ الله تعالی ﷻ په پاکي او حکمت سره ستايو.

د کورنۍ غړو ورته وويل: موږ (د خپلو لوڼو د موافقت په شرط) ستاسي پيشنهاد منو.

تر دې وروسته حضرت بلال او حضرت صهيب رضي الله عنهما د هغوی څخه را رخصت سول، په لاره کي حضرت صهيب رضي الله عنه و بلال رضي الله عنه ته وويل:

ويلي به دي وای چي موږ د جهاد په صحنو کي د الله تعالی د رسول ﷺ په څنګ کي وو.

بلال رضي الله عنه ورته وويل: چپ سه! ما هم د حقيقت او د رښتيا څخه پرته بل څه نه دي ويلي همدا صداقت وو چي د هغوی د موافقت سبب سو.



# امانت داري که خيانت

د يوې روغي، سالمي او پرمختللي ټولني لپاره يو بل اخلاقي خصوصيت دا دئ، چي: د افرادو په منځ کي يې د امانتدارۍ خوی او عادت رواج ولري.

خيانت د دښمنيو، جرم او جنايت، اندېښنو او ګيلو د رامنځته کېدو اساسي عامل دئ. د خيانت په پايله کي د دوستانو، والدينو او اولادونو او د خاوند او ښځي تر منځ بې اعتمادي او بې باوري رامنځته کېږي.

عالمان، د اخلاقو مربيان، ارواپوهان او ټولنپوهان ټول پر دې خبره د نظر يووالی لري چي د فرد او ټولني لپاره تر ټولو بهترين اخلاق او خوی امانتداري ده او په دې خبره کي هيڅوک هم اختلاف نه لري.

د دې سره سره چي په زياترو بشري ټولنو کي د اخلاقي فضايلو د کمښت نارې او ګيلې اورېدل کېږي، خو بيا هم موږ او تاسي ټوله د امانتدارانو پر اهميت او د دوی د لوړو اخلاقو او بالمقابل د خاينانو پر حقارت، سپکوالي او بدۍ باندي اجماع او د نظر يووالی لرو.

خو پوښتنه دا ده چي امانت داري څه شي ده؟ اندازه او حدود يې کوم دي؟ او زموږ په ننني ټولنيز ژوند کي يې ځای او مقام څه او کوم دئ؟

ډېری خلک امانت دارۍ ته د ډېري تنګي او محدودي زاويې څخه ګوري او هغه د يو خاص شي په سم ساتلو سره چي يو کس ته

Scanned with CamScanner

ورسپارل سوی وي معنا کوي، که یې هغه شی مکمل پر خپل خپل خاوند ته وسپاری نو هغه شخص یو امانتدار انسان دئ او که یې هغه حیف و میل او ضایع کړ نو هغه یو خاین انسان شمېرل کېږي.

دا کار که څه هم د امانتدارۍ د معنا یوه برخه ده خو په واقعیت کي یې ډېره محدوده برخه شمېرل کېږي، الله تعالی ﷻ فرمايي:

إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾

(سورت الاحزاب – ۷۲ آیت).

ترجمه: بېشکه موږ وړاندي کړ، موږ امانت (ثواب – عقاب) پر اسمانونو او پر ځمکه او غرونو پس منع راوړه دوی له دې چي پورته کړي هغه (د امانت بار) انسان چي دغه (انسان) دئ ظالم ډېر بې وېري نادان (په خپل عافیت).

دا خو ښکاره خبره ده چي په دې مبارک آیت کي د (امانت) نه مراد او هدف د خلکو د امانت اېښوول سوو مالونو څخه حفاظت نه دئ او نه هیڅ یوه مفسر د دې آیت څخه دغه پورتني برداشت اخیستی دئ. د دې مبارک آیت څخه داسي یو امانت مراد دئ چي د انسان څخه ماسوا بل هیڅ مخلوق د هغه منونکی او وړونکی نه دئ، د انسان استعداد او توان ته په پام سره دا یوازي انسان دئ چي د دې درانه بار او لوی امانت د منلو او وړلو خاصیت لري، نو داسي ښکاري چي د (امانت) موضوع داسي یوه موضوع ده چي د انسان د روح، فکر او ماهیت سره کلک تړاو لري.

په دې مبارک آیت کي (امانت) اجتماعي مسئولیتونو ته ژمنتیا



او التزام او د هغوی په سمه توګه اداء کول مراد دي. کېدای سي چي دا مفهوم د دې مبارک آیت څخه تر هغو برداشتونو نه یو نوی تفسیر او برداشت وي کوم چي اکثره مفسرینو د دې آیت په تفسیر کي ویلي دي، چي امانت د الله تعالی ﷻ اطاعت کول او د هغو فرایضو اداء کول دي چي الله تعالی ﷻ پر خلکو فرض کړي دي. چي کوونکي ته یې ثواب ورکول کېږي او پرېښوونکی یې د عذاب مستحق دئ. دا د هغه درونډ بار ډېره ښه معنا ده هغه چي د وړلو څخه یې آسمانونه، ځمکي او غرونو ډډه کړې ده.

ځکه د هغوی طبیعت او جوړښت داسي دئ چي د تعقل، تفکر او ارادې وس نه لري، چي عقل او اراده نه لري نو د خیر او شر د انتخاب خبره خو بېخي د هغوی په اړه مطرح نه ده، د الله تعالی ﷻ د مخلوقاتو په منځ کي دا یوازي انسان دئ چي (د عقل او ارادې خاوند دئ) او کولای سي چي د خپلو غوښتنو او غریزو په اړه تصمیم ونیسي او هغوی د خیر او حق پر لاره برابر او د الهي قانون تابع یې کړي او کولای سي چي په ټولنیزو روابطو او اړیکو کي پر خپلو وعدو وفا او عمل وکړي، او د انسانانو په منځ کي د اعتماد د رامنځته کېدو لپاره هڅه وکړي ... او که هغه د دې مسئولیتونو په ادا ینه کي کوتاهي وکړي نو په الهي امانت کي یې خیانت کړی دئ، د تباهۍ زمینه یې برابره کړېده، پر خپل ځان او ټولني یې ظلم کړی او د خیانت د خطرناکو اثراتو چي پر خلکو یې لري بې تفاوته پاته سوی دئ.

نو په دې اساس امانتداري د ټولو مسئولیتونو ادایني او ټولو اجتماعي او اخلاقي تعهداتو ته شاملېږي (یا په بل عبارت امانت داري د انسان ټوله دیني، اجتماعي، اخلاقي، اقتصادي او نور

Scanned with CamScanner

مسئولیتونه په بر کي نيسي) . د مثال په توګه عقل يو الهي امانت دئ، چي انسان ته ورسپارل سوی دئ، که چیري انسان د عقل د غوښتنو پر اساس عمل وکړي او هغه په علم او الهي معرفت سره ښکلی کړي نو په ښه توګه يې د هغه په اړه امانت داري کړېده، همدا ډول بدن او جسم هم يو امانت دئ چي الله تعالی ﷻ انسانانو ته ورسپارلی دئ. که يې د سالمي غذا او درملني اړتياوي ښه پوره او تر سره کړو او تر بې ځايه سختو فشارونو لاندي يې رانه ولو او سخت کارونه په ونه کړو (په ناجايزو شيانو يې لکه د مسکراتو او مخدراتو کارول او جنسي بې لاريو يې کمزوری نه کړو) نو واقعاً چي د الهي امانت ساتنه مو کړېده.

په دې هکله پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

فان لجسدک علیک حقاً[1]

ترجمه: نو بېشکه پر تا باندي ستا د ځان حق سته.

مور، پلار، ښځه، اولادونه او ټول هغه کسان چي ستاسي سره د خپلوی اړيکي لري او د نصيحت د لاري د هغوی د سعادت او خوشبختی ځخه حمايت پر تاسي لازم دئ دا ټول الهي امانتونه دي که دي د دوی ټول حقوق اداء کړل هر ډول نصيحت او لارښوونه دي ورته وکړه د دوی د خير او خوشبختی زمينه دي برابره کړه او هغوی دي د شرا و ګناه ځخه منع کړل نو د دې امانت او مسئوليت دي ښه ساتنه او ادا ينه کړېده.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

(1) رواه مسلم، کتاب الصوم.



يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا (سورت التحريم – ٦ آيت).

ترجمه : اې هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دئ (يعني مومنانو) وساتئ تاسي ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله ﷻ) له اور ځخه.

خپلي ټولني ته د خدمت کولو، صلحي او اصلاح راوستلو مسئوليت لري. يوازي د دې هڅو د لاري د خپلي ټولني امانت داري کولای سې او که په خپلو ټولنيزو مسئوليتونو کي د لټی او کوتاهی ځخه کار واخلې نو د خپلي ټولني سره دي خيانت کړی دئ.

دين هم خورا يو لوی امانت دئ، چي د دين او شريعت عالمانو ته ورسپارل سوی دئ، که يې خلکو ته په سمه توګه لکه ځنګه چي ښايي هماغسي ورساوه د تحريف او لوبو ځخه يې وساته، مفاهيم يې ښه شرح او توضيح کړل، عقايد، احکام او آداب يې د دښمنانو د لاس اچولو ځخه خوندي کړل نو په رښتيا چي د ژوندانه د ډېرو ارزښتناکو او مفاهيمو ښه ساتونکي او حاميان دي او که يې (بالفرض خدای مه کړه) داسي ونه کړه نو د الله تعالی ﷻ، خلکو او خپلو ځانونو سره يې بدترينه خيانت کړی دئ.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾ (سورت آل عمران – ١٨٧ آيت).

ترجمه: او ياد کړه هغه وخت چي واخيست الله ﷻ عهد محکم د

Scanned with CamScanner

هغو کسانو څني چي ورکړل سوی دئ دوی ته کتاب چي خامخا به بيانوئ تاسي دا (کتاب) خلکو ته او نه به يې پټوئ تاسي نو وغورځاوه دوی دا کتاب وروسته د شاو خپلو او وايي خيست په عوض د دې کتاب قيمت لږ نو بد اخيستل د دوی (دغه اخيستل) دي.

د عالمانو او پوهانو سره موجوده علم هم په الهي امانتونو کي شمېرل کېږي، که يې چيري خلکو ته د علم او پوهي د لاسته راوړلو ښه زمينه برابره کړه او د الله تعالی ﷻ د خلقت او مخلوقاتو د اسرارو د کشفولو لپاره يې هڅه وکړه او د خپلو علمي لاسته راوړنو څخه يې د بشريت د هوساينې، خير او سلامتۍ لپاره استفاده وکړه، نو دغه پوهانو او عالمانو د خپل ورکړل سوي امانت ښه ساتنه او امانتداري کړېده او په تاريخ کي د تل پاته الهي اجر مستحق ګرځي.

إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ (سورت فاطر – ۲۸ آيت).

ترجمه: بېشکه هم دا خبره ده چي بېرېږي له الله تعالی څخه د بندګانو د دغه (الله ﷻ) پوهنده عالمان.

خو که يې خپلي علمي لاسته راوړني د بشريت د بېري، ضرر او مشکلاتو د پيدا کولو په لار کي وکارولې او د دې لاري يې د طاغوتيانو سره د نورو ډېرو جرمونو او جنايتونو په کولو کي مرسته وکړه، نو په حقيقت کي يې تر ټولو لوی مجرمين او خاينان دي او د الهي لعنت لاندي قرار لري[1].

[1] مثلاً د استعماري، کافرو او ظالمو نظامونو لپاره خطرناکي اټومي او کېمياوي اسلحې جوړول، يا په مذهبي اړخ کي د هغوی نظامونه په غلطو فتواوو توجيه کول او تائيدول او داسي نور ... (ژباړن).



فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ ۙ وَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ ۚ (سورت المائده – ۱۳ آيت).

ترجمه: نو په سبب د ماتولو د کلکي وعدې خپلي لعنت وکړ موږ پر دوی او ګرځولي دي موږ زړونه د دوی سخت چي اړوي دوی کلمې د ځايونو خپلو او هېره کړې ده دوی (غټه) برخه اخيستل د هغه شي چي پند ورکړه سوی و دوی ته په هغه سره.

همدارنګه مال سرمايه او دارايي د الله تعالی ﷻ امانت دي، که چيري په سمه توګه او سمه لاره مصرف سي، اجتماعي حقوق او وجايب يې ادا کړل سي نو خاوندان يې د صادقو او امانتدارو انسانانو په جمله کي شمېرل کېږي، په دنيا کي به د ښه او نېکانو او په آخرت کي به د الهي تل پاته نعمتونو څخه برخمن سي او که داسي نه وي نو خاين او ظالم به وي.

وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ (سورت الحديد – ۷ آيت).

ترجمه: او لګوئ (په لارو د الله کي) د هغو مالونو څخه چي ګرځولي ياست تاسي (الله ﷻ) خليفه ګان (د پخوانيو) په هغو مالونو کي.

نو امانتداري په دغه معنی او د دغو حدودو په مراعتولو سره د ملتونو د ترقۍ، خوشبختۍ او سرلوړۍ سبب کېږي او د امانت دغه مفهوم او حدود نه مراعتول د بدبختۍ او خوارۍ باعث کېږي.

Scanned with CamScanner

کله چي اسلامي امت الهي امانتونو او ایماني مسئولیتونو ته په صادقانه توګه غاړه ایښودلو کي وړاندي و، نو د نورو امتونو او ملتونو په پرتله بهترین او سرلوړی امت و، د پیغمبر ﷺ په وخت کي د یوې لوړي کورنۍ ښځي غلا کړې وه، دوستانو او قومیانو یې د جزا د مخنیوي په خاطر یو صحابي پیغمبر ﷺ ته د شفاعت په توګه ور واستاوه، پیغمبر ﷺ د دې شفاعت او سپارښت په خاطر سخت په قهر سو او په خطبه کي یې وویل:

ایها الناس ! انما اهلک من کان قبلکم انهم اذا سرق فیهم الشریف ترکوه و اذا سرق فیهم الوضیع اقاموا علیه الحد. اما والذي نفس محمد ﷺ بیده لو ان فاطمه بنت محمد ﷺ سرقت لقطع محمد ﷺ یدها[1].

ترجمه: اې خلکو ستاسي څخه مخکي خلک ځکه الله ﷻ هلاک کړل، چي په دوی کي به کوم بډای سړي او د نفوذ او نامه خاوند غلا وکړه نو هغه یې پرېښوده او حد یې نه باندي جاري کاوه، خو کله چي به بېوسه او غریب غلا وکړه نو پر هغه به یې حد جاري کاوه (بې عدالتي او خیانت یې کاوه) مګر (واورئ!) زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما نفس یې په واک کي دئ که چیري زما لور فاطمه هم غلا وکړي لا به یې هم لاس ور پرې کړم.

پر ټولو خلکو باندي مساویانه د تبعیض او توپیر څخه پرته د قانون اجراء کول یو الهي امانت دئ، چي د حاکمانو پر اوږو اچول سوی دئ.

[1] رواه البخاري و مسلم.



د حضرت عمر بن الخطاب ؓ د زامنو څخه یو زوی د بیت المال یو څه پیسې د ابو موسی اشعري ؓ څخه چي د کوفې والي و واخیستې، تر څو په هغه تجارت وکړي او د لږ وخت وروسته یې بیرته پوره بیت المال ته تسلیم کړي.

هغه د څه وخت لپاره په هغو پیسو تجارت وکړ او یو څه ګټه یې هم تر لاسه کړه، هر کله چي حضرت عمر ؓ د دې موضوع په جریان خبر سو نو خپل زوی ته یې وویل:

کله چي تا د خلکو څخه د تجارت لپاره شیان رانیول نو په دې خاطر چي د خلیفه زوی یې خلکو ستا څخه لږ بیه واخیسته او جنس یې ارزانه درکړ او کله چي دي هغه شیان پر نورو خرڅول بیا هم خلکو د مخکني سبب (دا چي ته د خلیفه زوی یې) ستا څخه شیان ډېر ګران رانیول. نو په دې خاطر کومه ګټه چي تا تر لاسه کړې ده په هغه کي ټول مسلمانان برخه لري او بیا یې د بیت المال پیسې او د هغې ګټې نیمه حصه بیرته بیت المال ته وسپارل او د دې کار د کولو په خاطر یې خپل زوی ملامت کړ او ابو موسی اشعري ؓ یې هم په دې خاطر چي د خلیفه زوی ته یې د بیت المال پیسې په پور ورکړي وې تر ملامتۍ لاندي ونیاوه.

دا هغه مسئولیت دئ چي حاکمان او رهبران یې د خلکو د دارایۍ (بیت المال) په وړاندي کوم چي د دوی سره د امانت په توګه د دوی په اختیار کي دي لري. خپلو دوستانو او خپلوانو ته باید ور نه کړل سي.

صلاح الدین ایوبي ؒ په خپل عصر کي د فتح او بري په ډګر کي تر نورو حاکمانو وړاندي و، هغه ډېر غنیمتونه چي یې لاس ته

راوړي وه د مسجدونو، مدرسو، روغتونونو او نورو کي کارول او مصرفول چي تر اوسه يې آثار باقي پاته دي او هيڅ شی يې ځان او اولادونو ته نه پرېښوول، ويل کېږي چي کله وفات سو هيڅ شی يې په ميراث پرې نه ښودل.

دا د هغو مجاهدينو او هغو پاکو رهبرانو اخلاق او کړنلاره ده چي حاضر نه وه څو د جهاد الهي اجر او ثواب د نورو شيانو سره معامله کړي.

يوه ورځ حضرت علي ﵁ يوه مسجد ته ور داخل سو او يو واعظ يې وليد، چي خلکو ته وعظ او نصيحت کوي، د وعظ او اجتماع تر ختمېدو وروسته يې هغه ته ګوښه وويل: آيا د قرآن کريم د احکامو او ناسخ او منسوخ په هکله معلومات لرې؟

هغه وويل: يا نه يې لرم.

حضرت علي ﵁ ورته وويل: هم ځان او هم نور خلک ګمراه کوې او ورته وېې ويل چي بل وخت خلکو ته د نصيحت کولو او موعظې څخه ډډه وکړې.

او مخکي مو د عايشې ﵂ کيسه ولوستله، چي د خلکو هغه هديې چي دې ته يې ورکړي وې او ارزښت يې يو زر درهمو ته رسېدی په داسي حال کي چي روژه يې وه او زاړه کالي يې اغوستي وه ټوله يې پر بېوزلو او غريبانو ووېشلې، او خپل ځان يې بېخي هېر کړی و. دا د هغو کسانو لار او کړنه ده چي سرمايه او دارايي يو الهي امانت بولي او د بېوزلو او غريبانو د ضرورت د ليري کولو په خاطر خپل ضرورتونه او اړتياوې هېروي.

کوم څه چي بيان سوه د امانت دارۍ د خويونو يو څو بېلګې وې.



البته په هغو ټولنو کي چي دغه عالي خوی (امانت داري) پکښې مروج و، د خلکو خپل منځي اړيکي د امانتدارۍ پر بنسټ ولاړې وې، په هغو ټولنو کي حاکم او محکوم، غني او فقير، عالم او امي، د امانتدارۍ او پر خپلو مسئوليتو د عمل کولو په مورد کي يو تر بله مسابقه او رقابت کاوه (خو په اوسنيو ټولنو کي حالت برعکس دی). دا داسي اخلاق او نېک روش و، چي د خلکو تر منځ يې د اعتماد او روحي آرامتيا يو فضا رامنځته کړې وه، د امانت دارۍ په خاطر د دوی تر منځ اړيکي او روابط او ګاونډيتوب پايې د مقابل خير غوښتنې، وفادارۍ او اعتماد پر بنسټونو ولاړې وې او د حق، خير او صبر د توصيې پر بنياد يې يو تر بله همکاري سره کوله. الله تعالی ﷻ دې پر هغوی ورحمېږي او موږ ته دې هم د هدايت او نېکو اعمالو او اخلاقو توفيق راکړي (آمين).

اې الله ﷻ! زموږ زړونه د ايمان او معرفت په نور روښانه او روحونه مو د اسلامي شريعت په روښانه وړانګو تازه او ويښ کړې (آمين).


Scanned with CamScanner





























Published By

**SADAQAT BOOK DEPO**

صداقت خپرندویه ټولنه کندهار-افغانستان

۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

Scanned with CamScanner